(د لوی اقتصادي اسلامي عالم عبدالرحمن
ابن خلدون نظر د ځمکې د کرې
د موجودیت او اقلیمونو په هکله )

د مقدمې کتاب څخه یو فصل 👆
ترتیب کوونکی: عثمان غني زابلي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له ځينو ځنډو نه يې اوبه ور ټولې کړې. له دې نه دا شک پيدا کيږي چې اوبه د ځمکې لاندې دي چې دا سمه نه ده ځکه چې د ځمکې لاندې د هغو مرکز دی او د ځمکې اړخونه د مرکز د جاذبې د ثقل په سبب د مرکز په لور ور مايل دی او هغه اوبه چې ځمکه پکې را ايساره ده هغه د ځمکې پر مخ دي، البته په يوه حساب تر ځمکې لاندې هم دي.

## د ځمکې نيمايي برخه پرانيستې ده

د ځمکې هغه برخه چې په اوبو بېله شوې ده نيمايي ده او له څلورو خواوو په اوبو کې را ايساره ده، دې ته محيط سمندر وايو، عجميان لبلابه اوقيانوس ورته وايي، دې ته توره اوسره بحيره هم وايي.

## د ځمکې څومره برخه اباده ده

د ځمکې هغه نيمه کره چې اوبه ترې لرې شوې دي اباده هم ده او شاړه هم ده. شاړه يې تر ابادۍ زياته ده، جنوبي برخه يې تر شمالي هغې زياته شاړه او غير اباده ده. د ځمکې په کره کې اباده برخه په شمالي برخه کې ډېره ده چې د کروي سطحې په بڼه ده. سويل لوری د استوا پر کرښه ختمېږي او شمالي لوری په شمالي کرښه پای مومي. چې شا ته يې غر دی چې د هغو او اوقيانوس سمندر تر منځ ولاړ دی. د هغو په منځ کې ياجوج او ماجوج دېوال هم موندل کيږي. دغه غر د ختيځ لور ته غځېدلی دی او له ختيځ او لوېديځ دواړو لوريو راځي تر محيط سمندر پورې رسيږي، خلک د ځمکې د پرانيستې په اړه وايي چې د کرې نيمايي بلکې ترې کمه ده، او د دې پرانيستې برخې ۱/۴ برخه اباده ده.

### د څلورمې برخې اووه برخې يا اقليمونه

دغه څلورمه برخه د اوسېدو وړ چې اباده ده په اوو اقليمونو وېشل شوې ده.

## د استوا کرښه، د البروج سيمه او معدل النهار

د استوا کرښه ځمکه له ختيځه تر لوېديځه په دوو برخو وېشي، دې ته د ځمکې اوږدوالی وايي، د ځمکې پر مخ دا تر ټولو لويه فرضي کرښه ده، لکه په اسمان کې چې تر ټولو لويه کرښه د البروج سيمه يا معدل النهار دی. البروج سيمه په ۳۶۰ درجو وېشل شوې ده، يوه درجه يې د ځمکې پر مخ د مزله په کچه ۲۵ فرسخه ده، هر فرسخ ۱۲ زره گزه دی (يو ميل څلور زره گزه دی) په دې حساب يو فرسخ درې ميله او پنځه سوه گزه راځي، يو گز ۱۲۴ انگل او يو انگل له اوو وربشو سره مساوي دی چې په اوږدو يو له بل سره څوکه په څوکه کېښودل شي، له معدل النهار دايرې نه چې د ځمکې د استوا کرښې په مقابل کې ده او اسمان په دوو برخو وېشي او د دواړو قطبونو تر منځ ۹۰ درجې واټن دی، خو په شمال کې نفوس د استوا کرښې تر ۶۴ درجې پورې دی اونوره برخه يې شاړه ده ځکه چې هلته ډېره يخني ده او اوبه کنگل دي، لکه په جنوب کې چې د ډېرې تودوخې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبب بلکل استوگنه نه شته، موږ به انشاالله دغه ټولې خبرې په تفصيل يادې کړو. بيا به د دې ابادې برخې څلور خواوې، او په هغو کې چې څومره لوی او واړه ښارونه، غرونه، سيندونه، وياله، ځنګلونه او دښتې دي، (لکه بطليموس چې د جغرافيې په اثر کې او وروسته د زخار کتاب ليکوال بيان کړي دي) هغه يې په اوو برخو وېشلې چې اووه اقليمه ورته وايي. دغه برخې د ختيځ او لوېديځ تر منځ په فرضي کرښو په نښه شوې دي چې په سور کې يو شان دي خو په اوږدوالي کې توپير لري. لومړی حصه له دوهمې لويه ده او دوهمه تر دريېمې. چې وروسته بيا وړې کېږي او اوومه برخه تر ټولو وړوکې ده، ځکه چې دا د دې دايرې غوښتنه ده چې د ځمکې له کرښې څخه د اوبو د لرې کېدو په سبب په ځمکه کې پيدا شوې ده.

## هره برخه لس ټوټې ده

د جغرافيې پوهانو په اند هره برخه له ختيځه تر لوېديزه پورې په لسو لسو ټوټو وېشل شوې ده، او د هرې ټوټې او په هغو کې د شته نفوسو په باب خبرې ليکل شوې دي.

## د روم سمندرګی يا بحيره

د جغرافيې پوهان وايي د محيط سمندر په څلورمه برخه کې لوېديز لوري ته د روم بحيره راوتلې ده، او د ۱۲ ميلو په شاو خوا کې د يوه تنګ خليج په بڼه د طنجه او طريف په منځ کې پيلېږي. دې ته زقاق هم وايي او بيا وړاندې دورمي او پراخېږي تر دې چې شپږ سوه مايله سورروره شي او د څلورمې برخې د څلورمې ټوټې په پای کې له پيله ۱۱۶۰ فرسخه لاره وهي او ختمېږي. د دې پر څنډو شام، سوريه او عراق پراته دي، او جنوب لور ته يې لوېديځې څنډې دي، لومړی څنډه يې طنجه ده چې د زقاق خليج ته نږدې ده، بيا تر اسکندريې پورې د برقه ساحل دی، په همدې ډول يې شمالي لوري ته د قسطنطنيې څنډې دي چې تر خليج وړاندې دي، بيا بنادقه، بيا روما او وروسته فرنګستان. بيا د اندلس څنډه تر طريف پورې غځېدلې او له طنجې نه وړاندې زقاق ته نېږدې شته ده، دې ته د روم سمندرګی او د شام بحيره هم وايي، په دې کې لوی لوی ټاپوګان لکه اقريطش (کرېټ، قبرص، سايپرس يا يونان) صقليه (سسلي) هيورقه او سردانيه اباد دي.

## د قسطنطنيې خليج

د جغرافيې پوهان وايي چې د محيط سمندر شمال لوري ته له دوو سمندرونو دوه نور خليجونه راوځي، يو د قسطنطنيې خليج د مديترانې په سمندرګي کې چې له يو فرلانګ تنګ سور څخه پيلېږي (چې غښتي يې له يوې څنډې بلې څنډې ته رسېږي) او د درې سمندرونو تر څنګ تېرېږي او قسطنطنيې له خليج سره يو ځای کېږي، دغه مهال يې سور شپږ ميلو ته رسېږي او تر ۶۰ ميلو پورې بهېږي، دې ته د قسطنطنيې خليج وايي، بيا د دې له خولې څخه يو بل سمندر راووځي چې سور يې شپږ ميله دی دا په نيطش سمندر کې دوام کوي دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندر دلته د ختیځ لور ته لاره بدلوي له هرقله سیمې نه تېرېږي او د خزریه (قزوین) تر ښارونو پورې رسېږي او ختمېږي، له پیله یې اوږدوالی ۱۳ سوه میله دی او پر څنډو یې رومي، ترکي، برجان او روس اباد دي.

**بنادقه خلیج**

د روم بحیرې له دوهم خلیج نه د ونیز (بنادقه) دوهم سمندر د روم شمال لوري ته وتلی او غرونو ته چې ورسېږي د لوېدیځ لوري ته د بنادقه ښارونو په لور راګرځي او له پیله یوولس ساعته مزل کوي، د انګلایه ښارونو ته له رسېدو سره پای مومي. د دې داوړو غاړو ته د بنادقه او رومي قومونه اوسېږي او د بنادقه (ونیز) خلیج ورته وایي.

## د چین سمندر، د هند سمندر او د حبشې سمندر

د جغرافیې پوهان وایي د محیط سمندر له ختیځ لوري نه د استوا کرښې شمال لور ته ۱۳ درجې وړاندې یو ډېر لوی او پراخ سمندر وځي او یو څه جنوب لوري ته چې لاړ شي لومړي اقلیم ته رسېږي، بیا له همدې ځایه د لوېدیز لوري ته ګرځي چې د همدې ساحې په پنځمه برخه کې د حبشیانو او زنګیانو د باب المندب په ښارونو کې د پیل له خولې څخه څلور زره فرسخه لاره وهي او پای مومي، دې ته د چین سمندر، د هند سمندر او د حبشې سمندر وایي او جنوب لور ته یې د بربریانو او زنګیانو ښارونه دي چې امرالقیس یې په خپلو شعرونو کې یادونه کړې، دغه بربریان هغه نه دي چې مغربي قبیلې ورته ویل کېږي. بیا موغادیشو ښار دی بیا سفاله ښار او د وقواق سیمه ده او نور قومونه هم شته، وروسته بیا ابادي نشته او پاتې سیمه شاړه او له اوسېدونکیو تشه ده. او بیا د دې سمندر شمال لوري ته له خولې څخه پاس د چین هېواد دی، بیا هند دی، بیا سند دی او ورپسې احقاف، زبیده او نور د یمن غاړې دي چې د هغو له پایته رسېدو وروسته د زنګیانو سیمه ده.

**د قلزم سمندر او د سویز کانال**

وایي چې د حبشې سمندر نه دوه نور سمندرونه وتلي دي، یو یې په وروستي سر کې چې باب المندب ته نېږدې دی وتلی دی چې پیل یې له وړوکي خلیج نه شوی دی. وروسته کرار کرار په لوی سمندر بدلېږي، دا د شمال لوېدیز لور ته وځي تر دې چې له پیله تر ۱۴ سوه میله واټن وهلو وروسته د دوهمې برخې په پنځمه ټوټه کې قلزم ته نږدې پای مومي، دې ته د قلزم او سویز سمندر (کانال) وایي. د دې او مصر د فسطاط تر منځ درې پړاوه دي. د همدې ختیځ اړخ ته د یمن څنډې دي، بیا حجاز او جده دي او په وروستۍ برخه کې یې مدین، آمله او فاران دي، لوېدیځ لوري ته د صعید، عیذاب، سواکن او زیلع څنډې دي او له پیل سره یې د حبشیانو ښار دی، د دې د شا لوري غاړه قلزم ته نږدې د روم سمندر هغې برخې ته چې عریش ته نږدې ده مخامخ ده، د دواړو تر منځ نږدې شپږ پړاوه واټن دی د اسلام پاچاهانو او تر دوی وړاندې پاچاهانو د دغو دوو سمندرونو تر منځ و چې ځمکې د کیندلو او د دواړو د یو ځای کولو ارادې درلودې چې تر اوسه دغه خوب رښتیا نه شو. (اوس د سویز کانال کیندل شوی دی او د نړۍ له مشهورو کانالونو او سوداګریزو لارو څخه دی. پښتو ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سور خليج يا د فارس سمندر

له حبشي سمندر نه راوتلی بل سمندر چې اخضر خليج ورته وايي د سند او د يمن د څنډو تر منځ لاره باسي او شمال لوري ته لږ لوېديځ اړخ ته وځي ابله ته چې د بصرې له څنډو څخه ده د دوهمې برخې په شپږمه ټوټه کې د پيل له خولې څخه تر څلور سوه څلوېښت فرسخه واټن وهلو وروسته پای مومي دا د فارس سمندر په نامه يادوي. د دې ختيځ لوري سند، مکران، کرمان، فارس او ابله څنډې دي او لوېديځ لوري ته يې په وروستی برخه بحرين، يمامه، عمان، شحر (حضرالموت) اباد دي په پيل کې يې يمني احقاف دي.

## د عربو ټاپو وزمه

د عربو ټاپو وزمه د قلزم سمندر او فارس سمندر تر منځ ده، چېرته چې سمندر د وچې لور ته ننوتلی دی د هغو په جنوب کې د هند سمندر، لوېديز ته يې د قلزم سمندر او ختيځ ته يې د فارس سمندر دی.

## د عربو ټاپو وزمې پراخوالی

د عربو ټاپو وزمې پراخوالی د شام او بصرې له منځه تر عراقه ۱۵ سوه ميله دی، په دې کې کوفه، قادسيه، بغداد، د کسرا مانۍ او حيره شته دي، پر دې سر بېره عجمي قومونه دي لکه ترکان، خزر او نور په عربو کې د حجاز سيمه لوېديځ لوري ته ده او يمامه، بحرين او عمان ختيځ لوري ته ده او د يمن سيمه او څنډې يې سهيل لوري ته د حبشي سمندر ته دي.

## د جرجان او طبرستان سمندر

وايي چې په دې ډک جهان کې په شمالي کونج کې د ديلم په سيمه کې له ټولو سمندرونو څخه بيل يو بل سمندر هم شته چې د جرجان او طبرستان سمندر ورته وايي سور يې شپږ سوه ميله او اږوده يې زر ميله دي، د هغو لوېديځ لوري ته اذربايجان، ديلم او ختيځ ته يې ترکيه او د خوارزم سيمه ده سهيل لوري ته يې طبرستان او شمال ته يې خزر دلان سيمه ده، دا هغه مشهور سمندرونه دي چې د جغرافيې پوهان يې يادونه کوي.

## د ابادۍ نږې سيندونه

وايي چې د ابادۍ نړۍ په برخه کې زيات سيندونه دي، نيل، فرات، دجله او جيحون يانې د بلخ سيندونه د استوا له کرښې ۱٦ درجې لرې د لومړۍ برخې د څلورمې ټوټې د قمر غره په نامه له يوه لوی غره نه سرچينه اخلي، په ټوله ځمکه کې تر دې جگ غر نشته، ډېر سيندونه ترې بهېږي په ځايي جهيلونو کې ور توييږي او ځينې له نورو سمندرونو سره يو ځای کېږي، چې بيا له هغو سمندرونو څخه ډېر سيندونه بهېږي او ټول د استوا کرښې سره له غره نه لس پړاوه شا ته په يوه سمندرگي کې ورتوييږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د نیل سیند

بیا له دې سمندر نه دوه سیندونه روانېږي یو د شمال لور ته بهېږي او بیا د مصر له ښارونو تېرېږي او په څو ځانګو وېشل کېږي، هرې ځانګې ته یې خلیج وایي دا ټولې ځانګې بیا د روم په سمندرګي کې د اسکندریې سره ورلوېږي دې ته نیل دریاب وایي.

د دې ختیځ لوري ته صعید او لوېدیز لوري ته یې الواحات اباد دي، دوهم سیند د لوېدیز په لور درومي او په همغه لور بهېږي او محیط سمندر ته ورلوېږي هغه ته د سوډان دریاب وایي، ټول سوډاني قومونه د دې دریاب دواړو غاړو ته مېشت دي.

## د فرات سیند

د فرات سیند د پنځم اقلیم په شپږمه برخه کې د ارمنیا له ښارونو راوځي په سهیل کې د روم او ملطیه له سیمو څخه تر منهج پورې بهېږي، له صفین نه رقې ته، بیا له کوفې تېرېږي او د بصرې او واسط په منځ کې د بطحا په دېرینه سیمه کې پای مومي او د حبشې له سیند سره یو ځای کېږي. په لاره کې زیاتره مرستیال سیندونه ورسره یو ځای کېږي او له دې نه بیا واړه واړه سیندونه جلا کېږي چې دجلې ته ننوزي.

## د دجلې سیند

دجله اصلاً یو سیند دی چې د ارمنیا په سیمه کې دی، دا سهیل لوري ته له موصل، اذربایجان او بغداد نه تېرېږي او په څو ځانګو وېشل کېږي، چې د بصرې له سمندرګي سره یو ځای کېږی او بیا د فارس خلیج ته لوېږي. د فارس سمندر (خلیج) د ختیځ لور ته د فرات سیند ښي لور ته دی. په دې کې ډېر مرستندوی خوړونه له هر لوري راځي او ورسره یو ځای کېږي.

د دجلې او فرات په منځ کې موصل ښار دی، که هغو ته د فرات له دواړو غاړو ور وګورې نو مخامخ شام (سوریه) دی، که د دجلې له ساحله ورته وګورې نو مخامخ اذربایجان دی.

### جیحون سیند

جیحون سیند د دریم اقلیم په اتمه برخه کې په بلخ کې له ډېرو چینو څخه سرچینه اخلي، له دې سره لوی لوی مرستیال سیندونه ملګري کېږي. دغه سیند له سهیل لوري څخه د شمال لوري ته له خراسان نه وځي او د خوارزم پنځم اقلیم اتمې برخې ته رسېږي او بیا د جرجانیه (اورال) په بحیره کې تویېږي. د جرجانیې سمندرګی د جرجان ښار نه لاندې د یوې میاشتې مزله په واټن پروت دی.

په دې سیند کې د فرغاني سیند او د شاش سیند لوېږي چې له ترکستان نه راوځي د جیحون سیند لوېدیز لوري ته د خراسان او خوارزم سیمه ده، ختیځ لوري ته یې بخارا، ترمذ او سمرقند دي، شا ته یې ترکستان او فرغانه او خزلجیه او نور عجمي قامونه مېشت دي. دغه ټوله جغرافیه بطلیموس په خپل کتاب کې او شریف په زخار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب کې بیان کړې ده. هغوی په نقشه کې د ابادۍ نړۍ ټول غرونه، ښارونه او دښتې ښودلې دي چې له هره حیثه بشپړ دی چې د بحث د اوږدوالي له وېرې یې دلته د راوړلو اړتیا نه وینو. پر دې سربېره زموږ موضوع مغرب دی چې د بربریانو هېواد دی او په ختیځ کې یوازې د عربو ټاټوبی زموږ د بحث موضوع ده.

## د دوهمې مقدمې پایله

د ځمکې شمالي څلورمه برخه د سهیلي څلورمې برخې په پرتله ولې ډېره اباده ده؟ د دې د سببونو او لاملونو یادونه

## په لومړۍ او دوهمه برخه کې ابادي ډېره لږه ده

موږ ته له لیدو او پرله پسې خبرونو څخه معلومېږي چې په لومړۍ او دوهمه برخه کې د نورو په پرتله اوسېدونکي ډېر لږ دي. دوهم دا چې په هغو ځمکو کې ځنګلونه، دښتې او شګلنې سیمې هم ډېرې دي او د هغو دواړو ختیځ ته د هند سمندر هم پروت دی، د هغو دوو برخو قومونه او نفوس ډېر زیات نه دی او لوی او واړه ښارونه یې هم لږ دي، خو درېیمه، څلورمه او ورپسې نورې برخې د هغو په څېر نه دي، په هغو کې ښارونه او د ریګونو سیمې ډېرې لږې دي چې د نشت په حساب دي او په هغو کې ډېر ولسونه اباد دي، د وګړو شمېر یې ډېر دی، لوی او واړه ښارونه یې بې شمېره دي، له درېیمې تر شپږمې برخې پورې پرلپسې ابادۍ دي.

## جنوبي برخه شاړه ده

سهیلي برخه بشپړه له ابادۍ تشه ده، ډېرو پوهانو د دې سبب د هغه ځای له زغمه وتلې تودوخه بللې ده. لمر تقریباً پر تندې ولاړ وي، چې لږ کوږ شي هم بس په اوږو کې د مالګې هومره. راځئ دا په یوه دلیل کې تشریح کړو. په دې دلیل کې به پر دې هم وپوهېږو چې د شمال تر درېیمې برخې پورې د وګړو شمېر ولې زیات دی؟ وګورئ جنوبي او شمالي قطبونه چې پر خپل افق وي، نو په اسمان کې یې یوه تر ټولو لویه فرضي دایره (د نصف النهار دایره) منلې ده دغه دایره اسمان په دوو مساوي برخو وېشي. پر اسمان چې له ختیځه تر لوېدیځه څومره دایرې فرض کړای شوې، په هغو ټولو کې نصف النهار دایرهستره ده او نورې ټولې ترې وړې دي، د فزیک د علم زده کوونکي پوهېږي چې تر ټولو اوچت اسمان (مدار) په ۲۴ ساعتونو کې له ختیځه د لوېدیځ په لور خوځېږي او یو ځل دوره بشپړوي، له دې سره جوخت دننه نور اسمانونه هم ګرځي او دورې وهي، د اسمان د ۲۴ ساعتونو حرکت لیدل کېدای شي، همدارنګه د فزیک علم ثابتوي چې نورې سیارې هم په خپل خپل مدار (اسمان) کې حرکت کوي، خو د دوی حرکت د لومړني اسمان د حرکت پر خلاف دی، په دې مانا چې له لوېدیځ لورې څخه د ختیځ په لور دی. بیا د حرکت د ګړندیوالي او ورو والي په اعتبار د ستوریو په دورو کې توپیر دی. په خپل خپل اسمان کې د دې ستوریو د حرکت خپل مدارونه دي. چې د فلک البروج په دایره کې دي. دغه دایره په ۱۲ برخو وېشل شوې ده، او د نصف النهار دایره یې په دوو مخامخ نقطو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


غوټه کړې او ترې تېرېږي. دغه دوه ټکي د حمل او میزان په لومړیو کې دي. داسې وګڼئ چې نصف النهار دایره د فلک البروج دایره په دوو مساوي برخو وېشي، یوه برخه یې د نصف النهار شمال لوري ته ده او بله برخه یې له تلې (میزان) څخه د کب (حوت) تر پایه سهیلي لور ته ده، کله چې د ځمکې په ټولو ګوټونو کې دواړه قطبونه په اسمان کې وي نو د ځمکې پر مخ د نصف النهار دایرې په میدان کې یوه ګرده کرښه فرض کړئ، دغه کرښه له لوېدیز څخه د ختیځ په لور فرض کېږي، دې ته د استوا کرښه وايي، د جغرافيې پوهان وايي چې د رصدخانو له مخې دغه کرښه د لومړي اقلیم له پیل څخه پیلېږي. دغه ډول چې د کرښې شمال لوري ته په کوم لحاظ وګړي زیات دي په هماغه کچه شمالي قطب ته پورته کېږي تر دې چې تر ۶۴ درجو پورې پورته درومي، دا د اوومې برخې وروستی برخه ده. او دلته ابادي ختمېږي او کله چې لمر په ۹۰ درجو ودرېږي یانې پر نصف النهار ودرېږي، شپږ شمالي برجونه د ځمکې له مخ نه پاس وي او شپږ جنوبي یې د ځمکې له مخ نه لاندې وي.

## د ۶۴ او ۹۰ درجو تر منځ ابادي نشته

د ۶۴ او ۹۰ درجو تر منځ ژوند ناشونی دی ځکه چې د دغو درجو تر منځ د تودوخې او یخنۍ تر منځ یوه اوږده موده ده، ځکه چې لمر د حمل او تلې سرته ور داخل شي نو هغه د استوا پر کرښه او هلته د خلکو د تندیو پر سر وي، بیا له دې ځایه د چنګاښ او مرغومي تر سرونو پورې رسېږي د دې وروستی حد واټن د نصف النهار ۲۴ درجې ده، بیا چې څومره له شمالي قطب نه لمر لرې کېږي همدومره د نصف النهار دایره له تندي نه د جنوب په لور درومي، په همدې انډول د چنګاښ تر میاشتې پورې شمالي برج د سر لوري ته درومي او په همدې تناسب تر مرغومي پورې لاندې درومي ځکه چې دواړه ډوله میاشتې د استوا پر کرښه د سر لوري ته شته دي، د لمر د شمال لور ته تر چنګاښ میاشتې پورې تر وروستي حده د تندي سر ته راځي، په کومو ځایونو کې چې عرض البلد ۲۴ درجې دي لکه حجاز او نور دلته همداسې وي، او که د شمالي قطب تر ۲۴ درجو زیات اوچت شي نو لمر د تندي سر ته نه راځي بلکې جنوبي لوري ته ورختمېږي او تر ۶۴ درجو پورې هماغسې تېتېږي، دلته نو د ډېرې یخنۍ په سبب او تر اوږدې مودې پورې د تودوخې نشتوالي په سبب د حیواناتو د شتون امکان نشته. بیا لمر چې نېغ د تندي سر ته راځي او وړانګې یې عمودي لوېږي او په نورو وختونو کې یې کږې په یوه زاویه وړانګې لوېږي چې منفرجه او یا حاده زاویه راځي کله چې د رڼا وړانګې سیده لوېږي رڼا زیاته وي او ښه خپرېږي او چې په کږه کرښه لوېږي، څومره چې دغه کرښه کږه وي همدومره د رڼا وړانګې کمېږي او لږ خپرېږي، ځکه خو کله چې لمر ښي اړخ ته وي نو تودوخه زیاتېږي او چې څومره له تندي لرې کېږي تودوخه ورو ورو کمېږي ځکه چې رڼا د تودوخې او یخنۍ سبب ده، په کال کې دوه ځله لمر د استوا پر کرښه درېږي چې دا د ورې (حمل) او تلې (میزان) په میاشتو کې وي. او چې له تندي نه لرې کېږي نو ډېر نه لرې کېږي، خو چې کله د چنګاښ (سرطان) او مرغومي سر ته ورداخلېږي چې د مېلان وروستی حد یې دی، نو تودوخه لا متعدله نه وي چې بیا د تندي په لور ور پورته کېږي، ځکه خو پر افق وړانګې نېغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه خو په هغو سیمو کې تل ډېره تودوخه وي او هوا ډېره گرمه وي چې د لوېږي او دغه موده اوږده وي، ځکه د دې سیمو وضعه د استوا د کرښې د سیمو په نصف النهار شمال لور ته تر ۲۴ درجو پورې سیمې دي، ځکه د دې سیمو وضعه د استوا د کرښې د سیمو په څېر ده، د دوی د تندي سر ته دوه ځله لمر راځي او د تودوخې له زیاتوالي سره هوا هم وچه او ډېره توده شي چې له امله یې د حیواناتو زېږېدل ودرېږي. دا چې په ډېره تودوخه کې اوبه وچېږي او نم ختم شي، ځکه چې د هغوی زېږون او راټوکېدل په اوبو پورې تړلي دي. وروسته چې لمر له چنگاښ نه د ۲۵ درجو عرض البلد لور ته لاړ شي نو لمر زر لوېږي او تودوخه معتدله یا اعتدال ته نږدې شي چې د ژوندیو د زېږون لپاره چاپېریال برابر شي. بیا چې څومره عرض البلد زیاتېږي یخني ورسره زیاتېږي ځکه چې وړانگې پر ځمکه کږې لوېږي او د ژوندیو په پیدا کېدو کې بیا خرابي راځي. په هر صورت د ډېرې تودوخې او ډېرې یخنۍ دواړو کې د زېږون لړۍ درېږي، خو ډېره تودوخه تر ډېرې یخنۍ په دې تړاو ډېره اغېزمنه ده، ځکه چې په تودوخه کې رطوبت او لنده بل ډېر ژر گړندی وچېږي. خو یخني بیا دومره په گړندیتوب لنده بل کنگل کوي نه، په همدې دلیل په لومړۍ او دوهمه برخه کې ژوند ژواک ډېر نه دی، په درېیم، څلورم او پنځم اقلیم کې په منځنۍ کچه دی، ځکه چې د رڼا د کمۍ په سبب تودوخه معتدله ده په شپږمه او اوومه برخه کې ابادي زیاته ده ځکه چې په دې کې هسې په نوم تودوخه ده او یخني د تودوخې په څېر په پیل کې د زېږون او ژوند په لړ کې اغېز نه لري، چې د پیدا کېدو ماده کنگل کړي، خو هغه مهال بیا اغېزه لري چې د ژوندیو شیانو په پیدا کېدو کې خنډ کېږي. دغه حالت تر اوومې برخې پورته واقع کېږي. له همدې لامله په شمالي څلورمه برخه کې ابادي زیاته ده ځکه چې تودوخه په «تخلیق» کې ډېر گړندی اغېز لري، ځکه خو علما وایي چې له استوا نه لرې په جنوبي لوریو کې ابادي نشته او هغه شاړې دي. په داسې حال کې چې دغه خبره شکمنه ده. ځکه چې د پرلپسې معلوماتو او مشاهدې نه داسې ښکاري چې دلته هم ابادي نشته بلکې د هغوی له دلیل نه ښکاري چې د ډېرې تودوخې له امله هلته د ژوند لړۍ له ستونزو او خرابیو سره مخ وي. ځکه خو عقل وایي چې هلته به ابادي بلکل نه وي او یا به وي خو ډېره لږه. عیني واقعیتونه هم دا وایي چې د استوا پر کرښه او هغو ته په نږدې سیمو کې ابادي شته خو ډېره لږه ده. د ابن رشد نظر دا دی چې د استوا سیمې معتدلې دي او د هغو جنوبي لوري ته د شمالي لوري په څېر ابادي نشته، د نسل د زیاتوالي د فساد له اړخه د ابن رشد قول ناشونی نه دی، خو د استوا کرښې په جنوبي لوري کې ځکه ابادي نشته چې هلته د ځمکې مخ اوبو نیولی دی او په شمالي برخه کې چې څومره ابادي ده د هغو معادل په جنوبي لوري کې ځمکه تر اوبو لاندې ده، بیا هغه معتدله برخه چې نه ډېره توده او نه سړه ده په اوبو کې ډوبېدو په سبب د ژوند وړ نه ده. هغه سیمه چې معتدله نه ده هغه په لومړۍ درجه د ژوند وړ نه ده. دا ځکه چې آبادي او نفوس په کراره زیاتېږي، د حاصلاتو زیاتېدل منع نه دي، یانې ژوند له نشت نه پیلېږي چې لومړی هېڅ هم نه وي او بیا یو ځل نفوس زیات شي. د استوا پر کرښه د ژوند د نشتوالي نظر سم نه دی، ځکه چې له پرلپسې خبرونو څخه دغه خبره ردېږي. له دې خبرو وروسته راځئ د «زخار» کتاب د لیکوال د نظریاتو له مخې د جغرافیې نقشه درته وښیو، او بیا د دې نقشې پر هر گوټ رڼا واچوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په یاده جغرافیه بشپړه تبصره

### لومړی اقلیم

وګورئ علماوو اباده نړۍ له شمال نه سهیل لوري ته په اوو برخو وېشلې ده چې هرې برخې ته يې اقليم وايي. د هر اقليم اوږدوالی له ختيځه تر لوېديځه دی. لومړی برخه له لوېديځه تر ختيځه د استوا له کرښې سره موازي په خپل حد کې سهيل لوري ته درومي او تر هغو ورهاخوا له شاړو ويرانو پرته هېڅ هم نشته، که فرضاً هلته ابادي هم وي نو له نشت سره برابره ده، بيا د لومړی برخې شمال لوري ته دوهمه، بيا دريمه ورپسې څلورمه، بيا پنځمه، بيا شپږمه او بيا اوومه برخه ده په اوومه برخه کې وروستۍ ابادي ده. له اوومې برخې وروسته تر محيط سمندر پورې غير اباد ځنګلونه دي، لکه له لوړې برخې وروسته چې ځنګلونه او دښتې دي، خو د جنوب په پرتله په شمال لوري کې شاړه سيمه لږه ده، بيا په دې برخو کې له نصف النهار نه د لمر د لرې کېدو په سبب او د شمالي قطب د اسمان د لوړوالي په سبب په شپه او ورځ کې توپير وي. ځکه چې د شپې او ورځې په قوسونو کې کم والی او زياتوالی راځي؛ د لومړی برخې په وروستيو کې شپه ډېره اوږده وي. ځکه خو کله چې لمر د مرغومي مياشتې ته داخل شي نو تر ټولو اوږده شپه ديارلس ساعته وي. او کله چې د چنګاښ مياشت را د بره شي نو تر ټولو اوږده ورځ ۱۳ ساعته شي.

### دوهم اقليم

همدغسې کله چې په دوهمه برخه کې لمر د سرطان مياشتې ته داخلېږي نو تر ټولو اوږده ورځ ديارلس نيم ساعته شي، دې ته د تودوخې موسم بدلېدل وايي. او کله چې لمر د مرغومي مياشتې ته داخلېږي نو تر ټولو اوږده شپه ديارلس نيم ساعته وي چې د يخنۍ د موسم د بدلېدو په مانا ده، کله چې ورځ ديارلس نيم ساعته وي نو شپه لس نيم ساعته شي. کله چې شپه ديارلس نيم ساعته شي نو ورځ بيا لس نيم ساعته کېږي، ځکه چې د شپې او ورځې ټول ټال مزل ۲۴ ساعته دی. په کوم حساب چې ورځ لوېږي په هماغه کچه شپه لنډېږي او څومره چې شپه اوږدېږي په هماغه اندازه ورځ لنډېږي. دغه ۲۴ ساعته پر محور د بشپړې دورې مزل دی تر ټولو جګ اسمان په ۲۴ ساعتونو کې پر دنيا يو ځل راڅرخي. مانا دا چې ځمکه او نورې سيارې د لمر پر محور راڅرخي.

### دريم اقليم

همدغسې د دريمې برخې په وروستيو کې شپه او ورځ څوارلس څوارلس ساعته کېږي، د څلورمې برخې په وروستيو کې شپه او ورځ هر يو څوارلس نيم ساعته او د پنځمې برخې په پای کې ۱۵ ، ۱۵ ساعته شپه او ورځ وي، د شپږمې برخې په وروستيو کې پنځلس نيم ساعته، شپه او ورځ وي او د اوومې برخې په پای کې بيا ۱۶ ساعته شپه او ورځ شي چې تر هغو وړاندې ابادي پای ته رسېږي او تر اوومې برخې وړاندې نه ده خپره شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه خو د شپې او ورځې د مخکنی برخې له نښتې برخې سره نیم نیم ساعت کېږي. او د هرې برخې په مقامونو کې هم له استوا کرښې نه د لرې والي په سبب د دقیقو توپیر پاتې کېږي.

## د عرض البلد تعریف

په هر اقلیم کې د هغو د ښار له عرض البلد څخه موخه هغه واټن دی چې د دې ښار د نصف النهار او موقعیت تر منځ ده. د نصف النهار کرښه د استوا د کرښې د اوسېدونکیو سمت داسې موقعیت دی، د دې فاصلې مطابق د ښار له افق نه په جنوبي قطب کې پیدا کېږي او په شمالي قطب کې لوړوالی وي دغه درې واړه واټنونه یو له بل سره یوه اندازه وي او همدې ته عرض البلد وایي لکه چې پاس یې یادونه وشوه.

پوهانو هر اقلیم له لوېدیځه تر ختیځ پورې په لسو برخو وېشلی دی، هره برخه کې چې څو لوی او واړه ښارونه، غرونه او سیندونه دي هغه بیانوي او د هغوی تر منځ واټن ښایي موږ به یې په لنډون د هر اقلیم مشهور ښارونه، غرونه او سیندونه بیان او هغوی تر منځ واټن به هم بیان کړو، دا به په هماغه ډول منظم کړو چې په نزهت المشتاق کې لیکل شوي دي. دغه کتاب علامه علوي او لیسي حمودي د سیسلي پاچا زخار بن زخار ته لیکلی و، هغه مهال نومړی د سیسلي د پاچا مېلمه و او سیسلي د (مالټا) له حکومته وتلې وه. دغه کتاب د شپږمې پېړۍ په لومړیو کې لیکل شوی دی او پاچا هغه ته ډېر اثار لکه د مسعودي، ابن خردازویه، حوقلي قدري، منجم د ابن اسحاق او بطلیموس او نور ورته راټول کړي وو موږ دغه بیان له لومړۍ برخې پیلوو او درجه په درجه به په اووه واړو رڼا واچوو.

## د لومړي اقلیم تفصیل

د دې اقلیم لوېدیځ ته د خالدات ټاپوګان دي له همدې نه بطلیموس د ښارونو د اوږدوالي اخیستلو پیل کړی دی. دغه ټاپوګان د اقلیم په منځ کې نه دي، دا په محیط سمندر کې ډېر شمېر ټاپوګان دي چې تر ټولو مشهور یې درې دي چې اباد هم دي. څرګنده شوې چې د دې پېړۍ په منځ کې د انګرېزانو څو بېړۍ له دې ځایه تېرې شوې، انګرېزانو له دوی سره جګړې وکړې او د غنیمت مالونه یې ترې لوټ کړل، ځیني خلک یې بندیان هم ترې راوستل چې له هغوی څخه یې ځیني د اقصی مغربي څنډو ته واستول بیا یې دوی د پاچا په خدمت کې حاضر کړل. کله چې هغوی عربي زده کړه نو د خپلو ټاپوګانو په اړه یې ټول حالات ورته وویل دا یې هم ورته وویل چې هغوی پر ځمکې د کر لپاره له غویانو نه د ځمکې په اړولو کې کار اخلي. دا چې په هغو ټاپوګانو کې اوسپنه نه موندل کېږي او د دوی ژوند او ژواک په وربشو پورې تړلی دی، او د شیدو وزې او نور خاروي ساتي په ډېرو جګړه کوي او هغه د شا لورې ته غورځوي او د هغوی لمر ته عبادت او سجدې کوي، دوی کوم مذهب نه مني ځکه چې د کوم پیغمبر دعوت ورته نه دی راغلی. ناڅاپي انسانان هغو ټاپوګانو ته ورځي که په نیت او اراده وغواړي ورشي بیا د هغوی درک لګول ګران وي. ځکه چې په سمندر کې د کښتیو سمت او لوری د شمال څپې ټاکي او پر دې لورې هم چې که هوا موافقه وي نو کښتۍ به په کومو ښارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


تېرېږي، او که شمال له مخالف لوري وي بیا د کښتۍ ماڼو ګان باد بانونه پرانیزي چې کښتۍ دغه باد بانونه په موافق لوري باندې بوځي، په دې لړ کې ماڼو ګان هم یو څه اصول لري چې په هغې کښتۍ چلوي چې ټول د څنډو ښارونه په هغو کې لیکل شوي دي د شمال لورى هم د هغو د لوري بدلېدل هم په هغه نقشه کې لیکل شوي چې کمپاس ورته ویل کېږي. کښتۍ چلوونکی د کښتۍ په چلولو کې پر همدې باور کوي. په محیط سمندر کې پر ټولو خبرو عمل ډېر ګران دی، ځکه په هغو کې لویې بېړۍ نه چلېږي، که کومه بېړۍ له څنډې لادرکه شي بیا یې څنډې ته راتلل ډېر ګران دي. د محیط سمندر په هوا کې او د اوبو پر سر غبار او بړاس خپور وي چې کښتیو ته په تګ کې ستونزې جوړوي او د لمر وړانګې لاندې سطحې ته نه پرېږدي چې دغه بړاسونه له منځه یوسي ځکه خو د هغو ټاپوګانو لاره موندل ګران دي او د هغو له وضعې خبرېدل ډېر سخت دي.

## د لومړي اقلیم لومړۍ برخه

په دې کې نیل له خپلې سرچینې څخه چې د استوا کرښې ته نږدې دی، بهېږي او شمال لوري ته د روم تر سمندر ګي پورې درومي، د نیل سرچینه قُمر غر دی، دغه غر د استوا له کرښې ۱۶ درجې پورته خواته را اوچت دی، دې ته قُمر د دې لپاره وایي چې د سپوږمۍ په څېر ډېر سپین او روښانه دی، خو د یاقوت په کتاب (المشترک) کې دغه لفظ د قاف په پېښ (قُمر) راغلی او (قُمر) یو هندي قوم دی، همدارنګه ابن سعید لیکلي چې له دې غره نه چینې را وتلې او پنځه پنځه یې سره یو ځای شوې او سمندرونو ته ننوزي. چې شپږ میله لرې دي او له هر سمندرګي نه د دې سیندونه راوتلي دي او یوه جهیل ته ورلوېږي، چې تر هغو لاندې یو پراخ غر دی چې په شمال کې دغه سیند په دوو برخو وېشي، لوېدیځه څانګه یې د سوډان د ښارونو په لور لوېدیځ لور ته بهېږي او محیط سمندر ته ورلوېږي، د ختیځ ښاخ یې د حبشې او نوبه د سیمو په لوري د هغو منځنیو سیمو ته بهېږي او د مصر پاسنۍ برخې ته رسېږي او بیا په څو څانګو وېشل کېږي، د هغو درې څانګې د اسکندریې، رشید او د میاط سره د روم سمندرګي ته ور لوېږي. بل ښاخ یې د سور سمندرګي په لومړي اقلیم په منځ کې بهېږي او تر سمندر پورې تر رسېدو مخکې لوېږي. د همدغه نیل پر څنډو د نوبه او حبشې ښارونه دي. او تر اسوان پورې ځینې درې او ځمکې هم دي. د نوبه پلازمینه د ونقله ښار هم چې د دې نیل لوېدیځ لور ته دی، تر دې وروسته علوه او براق دي، تر دې دواړو وروسته له بلاق نه شپږ پړاوه لرې په شمال کې جناول غر دی چې په مصر کې لوړ وي خو په نوبه کې ټیټ شوی دی، د نیل سیند چې دې غره ته ننوزي مخ ځوړې سیمې ته ور لوېږي او یوه وېرووونکې ننداره جوړوي، په دې کې د لویو او وړو کښتیو چلېدل ګران دي، بلکې سوډانیان له کښتیو مال کوزوي او په ګاډیو کې یې باروي چې تر اسوانه یې ورسوي. اسوان د سعید مرکزي برخه ده، بیا دغه سامان له سعید نه تر جناول پورې رسول کېږي. د اسوان او جناول تر منځ ۱۲ پړاوه مزل دی، د نیل دره د درو لوېدیځ لوري ته ده چې نن سبا شاړه ده خو د پخوانۍ آبادۍ نښې څرګندېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي اقليم پنځمه برخه

د دې اقليم په منځ کې پنځمه برخه ده، په دغه ميدان کې چې د استوا کرښې له شا نه د نوبه تر سيمو پورې رسېږي د حبشيانو ښارونه دي، دغه ميدان تر مصر پورې په لاندې سطحه کې تر بهېدونکي نيل پورې رسېږي، په دې کې ډېرو عالمانو غلطي کړې ده او دوی دا د قمر د نيل يوه څانگه بولي، بطليموس هم په خپل الجغرافيه نومي کتاب کې ترې يادونه کړې ده او وايي چې دا د قمر د نيل خليج نه دی، د دغه اقليم په منځ کې په پنځمه برخه کې د هند سمندر ختمېږي چې په هغو کې د چين له لوري ور داخل شوی دی او د هغو زياته برخه پکې ډوبه شوې وي، ځکه خو له هغو ټاپو گانو پرته چې د سمندر دننه دي آبادي نشته، دغه ټاپوگان ډېر زيات دي، نږدې تر زرو پورې رسېږي، يو څه ابادي د هغو شمال لوري ته پر غاړو ده، په لومړۍ برخه کې د لوېديځ لوري ته د چين او يمن لږه برخه هم ور داخله ده.

## د لومړي اقليم شپږمه برخه

د لومړي اقليم شپږمه برخه د قلزم بحر او فارس بحر تر منځ دوآبه ده، دغه دواړه دريابونه د هند له سمندر نه پيلېږي او د هغو شمال لوري ته بهېږي، د هغو تر منځ د عربو ټاپوزمه ده چې ختيځ لوري ته د يمن او شحر سيمې چې د هند سمندر څنډو سره شاملې دي، د حجاز او يمامه سيمې هم په دې کې شاملې دي، چې موږ به يې په نورو اقليمونو کې بيان کړو، د هند سمندر پر لوېديځې غاړې د زالعه (زيلع) ښار دی چې د حبشې سيمو په څنډو کې شامل دی، د حبشې شمال لوري ته د لجبه ځنگلونه دي چې د صعيد په پاسنۍ برخه کې د علاقي غره او قلزم درياب تر منځ بهېږی چې د هند سمندر نه لاندې لوري ته دي، د دې سيمې شمال او د زيلع له سيمې نه لاندې باب المندب دی، دلته لاندې لوېدونکی سمندر د مندب له غره سره د لگېدو په سبب تنگېږي، د مندب غر د هند په سمندر کې دی چې درې ميله سور يې پاتې کېږي همدغه ځای ته باب المندب وايي، د يمن بېړۍ د سويز له لارې چې مصر ته ځي له باب المندب نه تيرېږي. تر باب المندب لاندې د سواکن ټاپو لوري ته د يمن ميدانونه دي او پر څنډه يې د علي بن يعقوب ښار دی، جنوب ته يې په لوېديځو څنډو د بربريانو پر لپسې کلي دي، چې د سهيل لوري ته گرځي او د شپږمې برخې تر وروستيو پورې غځېدلي دي، د دغو کليو ختيځ لوري ته له دوی سره د نښتيو زنجبون سيمې دي، بيا جنوب لور ته د سفاله او وقواق ښارونه دي، چې د دې اقليم د لسمې برخې تر پايه پورې پرلپسې يو له بل سره يو ځای او تر هغو ځايه پورې دوام لري چې دغه سمندر په محيط کې ورگډېږي.

د محيط سمندر ډېر ټاپوگان دي، تر ټولو ستر ټاپو يې سرانديپ دی چې گردی دی، دلته يو مشهور او جگ غر دی. ويل کېږي چې پر ځمکه تر دې جگ بل غر نشته، دغه غر اسفاله ته مخامخ دی بيا د قمر ټاپو دی چې د مستطيل په بڼه آباده ده، دا د سفاله له سيمې نه پيلېږي د ختيځ په لوري مار ډوله کوږ او کږ تر چين پاس ساحلونو پورې رسېږي. د دې ټاپو په سهيل کې د وقواق ټاپوگان او په ختيځ کې د سيلون او نور ډېر ټاپوگان دي چې په هغو کې بېلابېل خوږ بويه شيان او مسئلې موندل کېږي، د جغرافيې پوهان وايي چې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټاپوګانو کې د سرو زرو او زمردو کانونه هم شته، د دې ځای اوسېدونکي د «اور» عبادت کوي او ډېر پاچاهان پرې حکومت کوي، د دې ټاپوګانو د اوسېدونکيو په باب عجيبې او حيرانوونکې خبرې دي چې جغرافيه پوهانو بيان کړې دي. د دې اقليم د شپږمې برخې په شمالي څنډه ټوله د يمن سيمه خپره ده. څکه خو د قلزم درياب له لوري د زبيده، مهجم، تهامه اليمن او تر هغو وروسته صعره ښار دی چې د زيديه امامت يو مرکزي ښار دی، صعده له سهيلي او ختيځ دواړو سمندرونو نه لرې دي، بيا د عدن ښار راځي، د هغو شمال لوري ته صفا آباد دی، تر دې دواړو وروسته د ختيځ لور ته د احقاف او ظفا ځمکه ده، بيا د حضرموت سيمه راځي، بيا د جنوبي او فارس سمندرګي تر منځ د شحر سيمه ده، د دې اقليم په شپږمه برخه کې د ځمکې دغه برخه وچه ده، تر دې وروسته نهمه برخه هم لږ وچه ده، بيا تر نهمې برخې لسمه برخه زياته وچه ده، په دې برخه کې د چين پاسنۍ برخه هم يو څه اندازه شامله ده چې د خانګو مشهور او نوماند ښار پکې دی او ختيځ لور ته يې مخامخ د سيلون ټاپوګان دي چې پاس يې يادونه وشوه.

## دوهم اقليم

### د دوهم اقليم لومړۍ او دوهمه برخه

دغه اقليم له لومړي سره د شمال په لوري کې يوځاى کېږي، د محيط سمندر په لوېديځ کې د خالداتو ټاپوګانو څخه دوه ټاپوګان شته دي، د دې اقليم په لومړۍ او دوهمه برخه کې پورته لوري ته د قنوريه ځمکه او تر هغه وروسته ختيځ ته د غانه د ځمکې پاسنۍ برخه ده، بيا د سوډاني تور پوستي قام زغاده ځنګل دی او له دې دوو سيمو نه لاندې لوري ته د نستر ميدان دی چې له لوېديځه د ختيځ په لور غځېدلی، په دې کې ځنګلونه دي د مغرب او سوډان د تور پوستانو تر منځ سوداګر له همدې سيمې څخه تېرېږي. په همدغه هوار ميدان کې د صنهاجه د مخ پټيو قومونو ځايونه دي، د هغو ډېرې څانګې دي چې کزوله، لمتونه، مسراقه لمطهنه او وريکه پکې اوسېږي.

### د دوهم اقليم درېيمه او څلورمه برخه

د دې ځنګلونو ختيځ لوري ته د فزان سيمه ده ورپسې د بربريانو د يوې تور پوستې قبيلې ارکار آبادۍ دي چې ختيځ لوري ته د درېيمې برخې تر پاسنۍ برخې پورې خپاره دي. بيا د دې دريمې برخې په شمال کې د وذان څه سيمه ده او په ختيځ کې همدې لوري ته د سنتريه سيمه ده چې الواحات الداخله ورته وايي، د څلورمې برخې نه پاس د باحويين پاتې سيمه ده، بيا د دې برخې په منځ کې په ساره کې د صعيد ښار دی چې د نيل پر غاړه آباد دی، چې په لومړي اقليم کې له خپلې سرچينې راوزي د دوو غرونو ( په لوېديځ کې د داحات او ختيځ لور ته د مقطم غرونو ) تر منځ تېرېږي او سمندر ته لوېږي. د هغو پاسني لوري ته د اسنا او ارمنت ښارونه ودان دي او په همدې ډول يې څنډې له اسيقوط او قوس سره يوځاى کېږي، دغه غرونه بيا نيل درياب په دوو برخو وېشي، ښۍ څانګه يې په همدې برخه کې بشپړېږي او کيڼ ښاخ يې په دلاص کې پاى مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دوهم اقلیم پنځمه برخه

د دغو دوو ځانګو تر منځ د مصر پاسنۍ برخې دي، دلته د مقطم غر او د عیذاب هوارې ځمکې دي، پنځمه برخه وړاندې په سویز کې په قلزم سمندر کې پای مومي چې په جنوب کې د هند له سمندر څخه راوتلی او د شمال په لور بهېږي، په همدې برخه کې د قلزم په ختیځو څنډو د حجاز ځمکه ده چې د یلملم له غرونو پیلېږي او د یثرب تر ښارونو رسېږي. د حجاز په منځ کې مکه معظمه ده، جده یې پر څنډه ده چې د عیذاب په هواره کې د هغه سمندر پر لوېدیځه غاړه آباد دی.

## د دوهم اقلیم شپږمه برخه

د دې لوېدیځ ته په شپږمه برخه کې د نجد سیمه ده، د نجد پاسنۍ برخه په سهیل کې ده او له تباله او جرش نه تر عکاظ پورې بیا په شمال لوري کې ده، په همدې ځای کې تر نجد لاندې د حجاز نورې برخې دي. ختیځ لوري ته بیا په همدې لوري د نجران او خیبر سیمې دي او په څوړو کې یې د یمامه ځمکې دي، د نجران ختیځ لوریو ته د سبا او مأرب سیمې دي،بیا د شحر سیمه ده چې د فارس تر سمندرګي پورې رسېږي او پای ته رسېږي. دا دوهم سمندر دی چې د هند له سمندر نه راوزي د شمال له لوري لوېدیځ ته اوړي او د مثلث په څېر بڼه خپلوي، د دې په پاسنۍ برخه کې د کلهات ښار دی چې د شحر پر څنډو دی بیا په همدې غاړه په کوزنۍ برخه کې عمان دی او د همدې برخې په پای کې بحرین او هجر سیمې دي.

## د دوهم اقلیم اوومه برخه

د اوومې برخې په پاسنۍ برخه کې د فارس سمندر یوه ځانګه ده، دا د سمندر په شپږمه برخه کې له بلې ځانګې سره یوځای کېږي، د دې پاسنۍ برخه د هند په سمندر کې ډوبه ده، او پر همدې تر مکران پورې د سند سیمه پرته ده. مکران ته مخامخ د طوبران سیمه ده چې په سند کې شامله ده، ځمکه خو د دې برخې لوېدیځ لوري ته د سند ټوله سیمه یوځای شوې ده. د سند او هند تر منځ ځمکې پر ځنګلونو پوښل شوې دي، په سند کې سند سیند بهېږي چې د هندوستان له سیمې رابهېږي او په سهیل کې د هند سمندر ته لوېږي.

## د دوهم اقلیم نهمه او لسمه برخه

د هند د سمندر پر غاړه د هند لومړنی ښار ودان دی، د هغه ختیځ لوري ته بلهتر دی، تر هغه لاندې د کابل سیمه ده، تر هغو وروسته ختیځ لوري ته د دوهم اقلیم په نهمه برخه کې د قنوج سیمه ده، چې د داخلي او بهرني کشمیر تر منځ پرته ده، د دې لوېدیځ لوري ته د هند نوره برخه ده چې ختیځ لوري ته د نهمې برخې نه تر لسمې پورې غځېدلې ده او تر ختیځه وړاندې درومي، د هغو شا ته د چین ځینې سیمې دي چې په هغو کې شیغون ښار ودان دی، بیا لسمه برخه تر محیط سمندر پورې بشپړه د چین سیمه ده، الله ج ښه خبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیم اقلیم

## د درېیم اقلیم لومړۍ برخه

دغه اقلیم له دوهم سره په شمال کې یوځای شوی دی، د دې د لومړۍ برخې $\frac{1}{3}$ برخه د درن (اطلس) غر دی، دغه غر محیط سمندر ته نږدې له لوېدیځه تر ختیځه غځېدلی دی، په دې کې بې شمېره بربري قومونه مېشت دي چې وروسته به یې بیان کړو د دې غره اوبل اقلیم تر منځ د ځمکې یوه ټوټه ده چې د محیط سمندر په پاسنۍ برخه کې واقع ده، په دې کې رباط ماسه دی او په ختیځ کې له دې سره نښتي سوټس او نول سیمې دي، همدې لوري ته په ختیځ کې د ورعه او ورپسې د سجلماسه سیمې دي، بیا د نستر د میدان یوه کلا ده چې شاړه ده چې په دوهم اقلیم کې مو یې یادونه کړې ده. د درن غر د دې برخې پر ټوله سیمه راخپور دی، لوېدیځ لوري ته په دې کې درې او پیچومي ډېر لږ دي. تر دې چې د ملویه وادي ته مخامخ کېږي، بیا یې تر پایه درې او پیچومي ډېر زیات دي، دلته په ترتیب سره مصادرت، بیا هنتانه، بیا تیملک، بیا گرمیوه، بیا مشکوره قومونه مېشت دي، د ټولو په پای کې مصاعده دي، بیا صنهاکه (صنهاجه) قبیلې دي او په پای کې د زناته ځینې قبیلې دي او د اوراس (کتامه) غر همدلته په منځ کې ور سره یوځای کېږي، تر دې وروسته د بربریانو نور قومونه مېشت دي چې په اړه به یې پر خپل ځای تفصیل راشي. دغه درن غر په لوېدیځ کې د لوېدیځ تر وروستیو ځنډو پورې په ټولو ښارونو کې غځېدلی دی او دهمدې غره د ننه دغه ښار ودان دی. ځکه خو د دې غره په سهیل کې د مراکش، اغمات او تادلا سیمې دي او په همدې برخه کې د محیط سمندر پر غاړه رباط اسفی او سلا ښارونه ودان دي. د مراکش په منځ کې د فاس سیمې مسکناسه، تازه او د کتامه مانۍ دي. دې ته مغرب اقصی (وروستی لوېدیځ) وایي، د همدې برخې پر ځنډو په محیط سمندر کې بلدان، اصیلا او عرایش پراته دي. چې پلازمینه یې تلمسان دی، د همدې پر ساحلي سیمو د روم په سمندرگي کې د حنین، د هران او نور ټاپوگان دي، دا چې د روم سمندر په لوېدیځ کې په څلورم اقلیم کې له محیط سمندر ( طنجه خلیج ) نه وزي د ختیځ لور ته درومي او د شام په سیمه کې پای مومي، بیا چې له تنگ خلیج نه را وزي لږ وړاندې درومي او په شمال کې پراخېږي په درېیم او پنځم اقلیم کې ور گډېږي ځکه خو یې پر غاړه د درېیم اقلیم ډېر ښارونه آباد دي، بیا ختیځ لوري ته د ټاپوگانو له ښارونو سره نښلي، د سمندر پر غاړه بجایه سیمه ده د هغو ختیځ لوري ته قسطنطنیه ده او د لومړۍ برخې په پای کې له سمندر نه یو پړاو لرې هغو ښارونو سهیل ته او د منځنی مغرب په سهیل کې په لوړو کې استیر، ور پسې مسیله او بیا زابن ودان دي، د مغرب پلازمېنه بسکره ده چې د غره او د هغو شا ته د درن غره سره یوځای شوی چې مخکې یې یادونه وشوه دا د دې برخې په پای کې ختیځ لوري ته پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د درېیم اقلیم دوهمه برخه

د دې اقلیم دوهمه برخه د لومړۍ برخې په څېر ده. خو په سهیل کې یې ۱/۳ برخه د درن (اطلس) غر پروت دی، چې له لوېدیځه د ختیځ په لور غځېدلی او اقلیم یې په دوو برخو وېشلی دی، شمالي برخه یې تر ډېره ځایه د روم په سمندرګي کې ډوبه ده او د سهیل لوري ټوله لوېدیځه ساحه په ځنګلونو پټه ده. ختیځ لوري ته یې غدامس ښار دی او د هغو ختیځ له لوري ته د ودان سیمه ده چې پاتې سیمه یې په بل اقلیم کې ده چې مخکې یې یادونه وشوه، په لوېدیځ کې د ودان په منځنۍ برخه او د روم سمندر تر منځ د اوزاس غر، تبسه او اوبس دي، د سمندر پر غاړه د بونه ښار دی بیا د دې ښارونو ختیځ لوري ته د افریقا ځمکه ده. چې د سمندر پر غاړه لومړی تونس ور پسې سوسه او بیا مجدیه ودان دي، د دې ښارونو جنوب ته د ودان غره په لمنه کې جرید، توزر، ققصه او نفزاوه ښارونه دي، د دې ښارونو او ساحلي سیمو تر منځ قیروان، د وسلات غر او سبیطله ښار ودان دی، د دې ټولو ښارونو ختیځ لوري ته د روم سمندرګي په غاړه د طرابلس ښار ودان دی جنوب لور ته یې بېدو طرابلس ته موازي ومر او نقره غرونه دي، په دې دواړو کې د هواره دوې قبیلې دي، دغه دواړه غرونه د درن له غره سره یوځای شوي دي، غدامس ته مخامخ دي چې یادونه یې د جنوبي برخې په وروستیو کې شوې ده. د دې برخې په پای کې ختیځ لوري ته د سمندر پر غاړه سویقه بن مشکوره پروت دی او په سهیل کې د ودان په سیمه کې د پوونده عربو د ګرځېدو را ګرځېدو سیمې دي.

## د درېیم اقلیم درېیمه برخه

د دې برخې له درېیمې برخې څخه هم د درن غر تیر شوی دی خو په پای کې شمال لوري ته ګرځېدلی او سیده وړاندې درومي او د روم سمندرګي ته رسېږي او په هغو ور ګډېږي. هلته د غرونو دغه لړۍ د اوسان په نامه بلل کېږي او یوه برخه یې په شمال کې د روم په سمندرګي کې ډوبه ده، تر دې چې د دې لړۍ او د روم سمندرګي د منځ برخه ډېره تنګ شوې، د درن د دغه غره شا ته په سهیل لوېدیځ کې د ودان نوره برخه ده او د عربو د تګ را تګ سیمې دي. بیا زویله بن خطاب دی. بیا د ختیځ لوري ته د دې برخې تر پایه ریګي او شاړه ساحه ده، لوېدیځ ته یې د دې غره او سمندر په منځ کې د سمندر پر غاړه سرت ښار دی، بیا شاړه هواره سیمه ده چې عربان پکې د کوچیانو په څېر ګرځي را ګرځي، بیا اجدابیه ده ور پسې برقه ده، دا دواړه د غره په ناو کې پراته دي، بیا هلته د سمندر پر غاړه طلسمه ده، بیا د غره په ګرځندي کې ختیځ لوري ته د دې برخې تر پایه د هیب او روامته کلي دي.

## د درېیم اقلیم څلورمه برخه

د دې اقلیم د څلورمې برخې په لوړو کې د برقیق میدان دی او په لاندې برخه کې یې د حیب او درداحه آبادۍ دي، بیا په دې برخه کې د روم سمندرګی ور ننوزي او د دې برخې ځینې ساحې تر سهیل پورې پکې ډوبېږي. تر دې چې د هغو تر پاسنۍ برخې پورې ور سره ټکر کېږي بیا شاړه سیمه راځي. چې دا هم د عربو د تګ

(c) ketabton.com: The Digital Library


راتګ ساحه ده، ختیځ لوري ته د دې شاړې سیمې تر څنګ د فیوم آبادي دي چې په هغو کې د نیل د سیند یوه څانګه د دوهم اقلیم په څلورمه برخه کې د صعید له ښاره له لاهون څخه تېرېږي د فیوم په سمندرګي کې ور تویېږي. د دې ختیځ لوري ته د مصر هېواد دی، د مصر مشهور ښار د نیل پر بله څانګه ودان دی، دغه څانګه د دوهمې برخې پر وروستیو کې د صعید له آبادیو نه دلاحس ته درومي د مصر په لاندیني برخه کې د شطنوف او زفتي منځ ته رسېږي دوهم ځلي په دوو څانګو وېشل کېږي او بیا په قرمطه کې کیڼ ښاخ بیا په دوو نورو برخو وېشل کېږي او دا ټول بیا د روم په سمندرګي کې ور تویېږي. د همدې څانګې پر ختیځه غاړه اسکندریه او پر لوېدیځه غاړه رشید ښار او پر ختیځه یې د میاط ښار پروت دی او د مصر او قاهرې او د هغو د سمندري غاړو په منځ کې د مصري قومونو لاندیني برخه ده چې هلته ډېر زیات وګړي دي او د کرنې ځمکې او د ویالو جال پکې غوړېدلی دی.

## د درېیم اقلیم پنځمه برخه

د دې اقلیم په پنځمه برخه کې د شام (سوریه او عراق) آبادي دي، او زیاتره په لاندې ډول واقع دي:

د قلزم سمندرګی له شام نه سهیل لوېدیځ ته له سویز نهر سره نږدې پای ته رسېږي. دا چې قلزم د هند له سمندر نه راوزي د شمال په لور پراخېږي او د لوېدیځ لوري ته بېرته را ګرځي، په دې برخه کې د هغه د راګځېدو لویه برخه راځي چې لوېدیځه څنډه یې د سویز په کانال پای مومي، په دې ټوټه کې د سویز له کانال وروسته د طور غر، فاران رمله، مدین او حوراء دي. حوراء یې د ټولو په پای کې دی، دا بیا له خپلو غاړو سره د سهیل په لوري د حجاز په طرف ور ګرځي، لکه چې د دوهم اقلیم په پنځمه برخه کې یې چې یادونه وشوه. بیا د اقلیم په دې برخه کې له شمالي کونجه د روم سمندرګی ور ننوتلی او د دې زیاتره لوېدیځې برخې یې په خپله لمن کې را نغښتې دي. پر همدې څنډه فرما او عریش شته دي او یوه څنډه یې د قلزم له سمندرګي سره نښلي چې بیا د دواړو تر منځ برخه تنګېږي دیوې دروازې بڼه خپلوي او د شام د خاورې په لور ور کږېږي، د همدې دروازې لوېدیځ لوري ته د تیه میدان پروت دی چې هلته د اوبو او وښو نښه هم نشته. کله چې بني اسرائیل له مصر نه را ووتل پخوا تر دې چې شام ته لاړ شي په دغه تیه میدان کې هم کلونه سرګردانه وو لکه چې په قرآنکریم کې یې کیسه ده.

د روم سمندرګي په همدې ټوټه کې چې په دې برخه کې ده د قبرص زیات شمېر ټاپوګان دي. پاتې ټاپوګان په څلورم اقلیم کې دي چې وروسته به پرې رڼا واچوو، ددغه ټوټې پر څنډه هغه لور ته چې پراخوالی یې د سویز له کانال سره تنګېږي د عریش ښار پروت دی، دغه عریش او عسقلان د مصر تر ټولو وروستي ښارونه دي، د عریش او عسقلان تر منځ د همدغه دریاب یوه برخه حایل ده، بیا د اوبو دغه ټوټه له هغه ځایه مخه ګرځوي په څلورم اقلیم کې له طرابلس او غزې سره په سمندر ور ګډېږي اوهلته په ختیځ کې د روم سمندر پای مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي، ختيځ لوري ته يې غزه او له هغو وروسته عسقلان د همدې ټوټې پر زياته برخه د شام ساحلي سيمې ودانې دي او له هغه ځايه چې شمال لوري ته وگرځې د قيساريه ښار دی. بيا په همدې ډول د عکا ښار دی بيا صور او بيا صيدا ودان شوي دي، بيا په څلورم اقليم کې سمندر د شمال لوري ته درومي په دې برخه کې د دې ټوټې د ساحلي ښارونو مخامخ يو ډېر لوړ غر ولاړ دی، د قلزم له څنډې له ايله نه وزي په شمالي کونج کې لر لوېديځ لوري ته مخه کوي او وړاندې درومي تر دې چې د دې برخې تر څنگ تېرېږي، دې غره ته لکام غر وايي، گواکې دغه غر د مصر او شام تر منځ د طبيعي دېوال په څېر ولاړ دی. ايله ته نږدې د دې پر څنډه د غرونو تر منځ لاره ده چې له مصر نه حاجيان مکې ته پرې تېرېږي، د دې لارې شا ته د شمال په کونج کې د سرات غره سره نږدې د ابراهيم خليل الله قبر دی. د سراة غر له پاس ياد شوي لکام غره سره د دې لورې په شمال کې د ختيځ په لور تللی او يو ځای شوی دی. بيا لر مخه گرځوي هلته د هغو په ختيځ لوري کې د حجر او ثموديانو سيمه ده او تيما او دومة الجندل هم. دغه سيمې تر حجاز را ښکته دي او له هغو پاس جنوب لوري ته رضوي غر او د خيبر کلاگانې دي. د سراة لانديني برخې په شمال کې د لکام غره ته نږدې د قدس ښار دی، بيا اردن دی او بيا طبريد دی. د هغو ختيځ لوري ته د غور ښار دی چې تر اذرعات پورې غځېدلی دی. د هغو ختيځ لوري ته د دې برخې تر پايه پورې د ومة الجندل دی چې پر هغو حجاز بشپړېږي. د دې برخې په پای کې د شمال لوري ته د لکام غره د گرځني سره د دمشق ښار دی چې صيدا او بيروت ته مخامخ دی، هلته د لکام غر د سمندر د دې ځانگې او دمشق تر منځ ولاړ دی. د دمشق لور ته په ختيځ کې د بعلبک ښار دی، بيا شمال لوري ته حمص ښار دی چې همدلته لکام غر پای مومي. د بعلبک او حمص په ختيځ کې د تدمر ښار او د دې اقليم تر وروستی برخې پورې د کليوالو د تگ راتگ ځايونه دي.

## د دريم اقليم شپږمه برخه

د شپږمې برخې په پاسنی ټوټه کې د يمامه او نجد تر ښارونو لاندې د عروج غره او حمان تر منځ تر بحرين او هجر پورې د کليوالو د اسونو ميدانونه دي چې د فارس له سمندرگي سره دي. د دې برخې په ځوړو کې له ميدانونو لاندې د حيره، قادسيې او فرات درې دي، تر هغو وروسته په ختيځ کې د بصرې ولس دی، د همدې برخې په وروستی برخې شمال لوري عبادان وابله دي، هغو ته نږدې د فارس سمندرگی پای مومي، او په هغو کې له عبادان سره د دجلې سيند ورلوېږي چې په ډېرو ځانگو وېشل کېږي او د فرات سيند ډېرې ځانگې په خپله غېږ کې اخلي او بيا د فارس سمندرگي ته ورتوئېږي. د سمندرگي دغه برخه په فراز کې سوروره وي خو د ختيځ لوري ته يې سور کمېږي او بيا دومره تنگېږي لکه په شمال کې چې تنگه وي، د دې پر لوېديځه غاړه د بحرين لانديني برخې هجر او احساء پرتې دي، او د هغو لوېديځ ته د اخطب، حمان او يمامه پاتې سيمې دي، پر ختيځې غاړې يې د فارس جگې ساحلي څنډې دي او سمندرگی د ختيځ لوري ته د وروستی برخې سره د ختيځ په لور غځېدلی دی، په همدې برخه کې په سهيل کې د فارس شا ته د کرمان او قفص غرونه دي، له هرمز نه لاندې د فارس ښارونه لکه سابور، دارابجرد، نسا، اصطخر، شاه جهان او د دې ټولو پلازمېنه شيراز

(c) ketabton.com: The Digital Library


آباد دي. د شمال لوري ته د فارسي ښارونو نه لاندې د سمندر غاړې ته نږدې د خوزستان ښار دی چې په هغو کې اهواز، تستر صدی، سابور، سولس، رامهر، مز او نور شامل دي او ارجان هم چې د فارس سمندرگی او خوستان تر منځ بېلوونکی برید دی، د کردانو د غرونو لړی د اصفهان تر څنډو پورې غځېدلې، د هغو غرونو شا ته د فارس پر ځمکه او هغو غرونو کې د فارسیانو د تگ راتگ ځایونه دی، دغه غر د رسوم په نامه مشهور دی.

## د درېیم اقلیم اوومه برخه

د دې اقلیم د اوومې برخې په پاسنی ټوټه کې د قفس ځینې غرونه دي تر څنگ یې سهیل او شمال ته د کرمان او مکران مشهور ښارونه دي، او رودن، شهرجان، یروشیر او برج دي، او د اصفهان ښار د لوېدیځ او شمال تر منځ د دې برخې په یوه څنډه پروت دی، بیا د کرمان او فارس د ښارونو ختیځ لوري ته د سجستان سیمه ده، سهیل ته د کوهستان سیمه ده، شمال لوېدیځ ته د کوهستان پر ځمکه او د کرمان او فارس او د سجستان او کوهستان تر منځ او د اقلیم د دې برخې په منځ کې لوی لوی ځنگلونه لیدل کیږي چې لارې یې سختې، خطرناکې او شاړې دي. د سجستان مشهور ښارونه بست او طاق دي، کوهستان د خراسان له ښارونو څخه دی، د هغو مشهور ښارونه یې سرخس او کوهستان دي چې د دې برخې په پای کې پراته دي.

## د درېیم اقلیم اتمه برخه

د اتمې برخې په سهیل او لوېدیځ کې په ښارونو کې د تفریح ځایونه دي چې یو ترکي قام پکې پروت دی، دغه ځایونه په لوېدیځ کې د سجستان له سیمې او په سهیل کې له کابل سره یو ځای شوي، د دې ځایونو شمال ته د غور غر او ښار پراته دي چې پلازمېنه یې غزنی دی چې د هندوستان برید دی. د غور په پای کې شمال لوري ته د استرآباد سیمه آباده دی، بیا شمال لوېدیځ لوري ته تر وروستۍ برخې پورې د هرات ښار دی چې بېدو د خراسان په منځ کې ودان دی، په دې سیمه کې اسفراین، کاشان، فوشنج، مرو، تالقان او جوزجان دي، دلته خراسان له جیحون سیند سره پای مومي، د جیجون پر سیند د خراسان له ښارونو څخه لوېدیځ لوري ته بلخ او ختیځ لوري ته ترمذ ودان دي. د بلخ ښار د ترکي حکومت پلازمېنه ؤ، دغه سیند د دجار د ښارونو له هغه ځایه راوزي چېرته چې د بدخشان بریدونه له هند سره نښلي، د اقلیم د دې برخې په سهیل کې او وروسته بیا د دې ختیځ ته وړاندې درومي او بیا د لوېدیځ لور ته گرځي د دې برخې په منځ کې تېرېږي له دې ځایه وروسته دغه سیند د حزناب په نامه یادېږي، بیا شمال لوري ته گرځي او د خراسان نه وزي سیده وړاندې درومي تر دې چې په پنځم اقلیم کې د خوارزم په جهیل کې تويېږي. کله چې دغه سیند د دې برخې په منځ کې له جنوب نه د شمال لوري ته مخه اړوي پنځه مرستیال لوی سیندونه ورسره یو ځای کېږي. له ختیځ نه د ختل او د خش په نومونو دوه سیندونه ورسره یو ځای کېږي. همدارنگه په ختیځ کې د تیم له غرونو او د هغو په منځ کې درې نور سیندونه راوزي چې پراخېږي او لوی سیند ترې جوړېږي، له هغو پنځو مرستندویو سیندونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخشاب سیند هم دی چې د تبت له ښارونو تېرېږي چې د دې برخې په جنوب ختیځ کې پراته دي او د لوېدیځ لور ته یو څه خم درومي تر دې چې د دې برخې په شمال کې تر نهمې برخې پورې رسېږي چې نږدې د دې برخې شمال لوري ته ده. د دې په مخ کې یو لوی غر درېږي او د ترکستان او ختل تر منځ د طبیعي دېوال کار ورکوي. له دې غره څخه د تېرېدو یوازې یوه لاره ده چې د دې برخې ختیځ لوري ته په منځ کې ده. دلته فضل بن یحیی د یاجوج ماجوج په څېر یو دېوال جوړ کړی ؤ او په هغو کې یې یوه دروازه ایښې وه، کله چې د وخشاب سیند د تبت له سیمې راوزي او دې دروازې ته رارسېږي نو دغه غر یې په مخه کې حایل شي چې دغه سیند د هغو په منځ کې تر لرې ځایه پورې بهېږي تر دې چې د وخش له سیمې تېر شي او د بلخ بریدونو ته نږدې د جیحون پر سیند ورگډ شي. بیا شمال لوري ته د ترمذ په لوري ورښکته شي او تر جوزجان پورې بهېږي، او له غور نه په ختیځ کې د دې او د جیحون د سیند تر منځ د خراسان نیسان ولایت دی، هلته د جیحون سیند پر ختیځه غاړه د ختل آبادۍ دي، خو د دې پر زیاته برخه غرونه دي او د وخش کلي دي د وخش شمال ته د تیم غر دی چې د جیحون سیند له لوېدیځ څخه د خراسان له یوې څنډې پیل کېږي د ختیځ په لور درومي تر دې چې لرې یې د «همالیې» له لوی غره سره یو ځای کېږي.

د همالیې شا ته د تبت سیمه ده او د هغې په کوزنۍ برخه کې د وخشاب سیند بهېږي چې د فضل بن یحیی له دروازې سره یو ځای کېږي. د جیحون سیند د دغو غرونو په منځ کې بهېږي، د هغو مرستیال سیندونه هم ټول له همدې غرونو راوزي، له دې مرستیال سیندونو نه یو وخش سیند هم دی چې له ختیځ نه راوزي او له ترمذ لاندې له هغو سره یو ځای کېږي. د تلبخ سیند هم چې خوله یې جوزجان ته نږدې د تیم په غرونو کې ده، له لوېدیځه راځي او د جیحون له سیند سره یو ځای کېږي، د دې سیند پر لوېدیځه غاړه آمد آباد ښار دی چې د خراسان په سیمه کې دی او د هغو په ختیځ کې د صنعد، اسرا او شنې سیمې دي چې ترکي ښارونه دي. ختیځ لوري ته د دې برخې تر پایه فرغانه ده. د ټولو ترکي ښارونو شمال ته د تیم غرونه دي.

## د درېیم اقلیم نهمه برخه

د دې اقلیم د نهمې برخې لوېدیځ لوري ته تر منځ پورې د تبت سیمه ده. جنوب ته یې هند دی. ختیځ ته تر پایه پورې د چین ځمکه ده، د دې برخې لاندې د تبت شمال ته د حزلجیه ښار دی چې د ترکستان سیمه ده چې تر وروستۍ برخې غځېدلې ده، د فرغانې ختیځ لوري ته د تغرغر ځمکه ده چې ترکان دي او شمال او ختیځ ته تر وروستي حده غځېدلې دي.

## د درېیم اقلیم لسمه برخه

د دې اقلیم په لسمه برخه کې په جنوب کې د چین پاتې برخې دي چې څوړې هم پکې دي، شمال لوري ته د تغرغر ښار ودان دی او د هغو ختیځ لوري ته تر وروستۍ برخې پورې د ترکي قام خرخېره ځمکې دي. د خرخیره د سیمو شمال ته د بل ترکي قام کتمان آبادۍ دي، هغو ته مخامخ په محیط سمندر کې پر یوه گردي

(c) ketabton.com: The Digital Library


غره ياقوت ټاپو دی. له دې غره نه د ټاپو په لور هېڅ لاره نشته او دې غره ته له بهر لوري نه ورختل ډېر گران دي. ياقوت ټاپو د ډېرو زهرجنو مارانو ټاټوبی دی، دلته ياقوت هم پرېمانه موندل کېږي. د دې ټاپو د اطرافو اوسېدونکي د خپل خدای ورکړي عقل له مخې ياقوت راباسي، د دې اقليم په نهمه او لسمه برخه کې د خراسان شا ته پر ټولو غرونو د ترکانو بې شمېره قومونه مېشت دي. دغه کوچي قومونه مېږې، وزې، اسونه، اوښان او غوايان پالي. د دې څارويو نسلونه روزي او په هغه سپرلي هم کوي او هغه حلالوي او خوري يې هم. د دوی قبيلې بې شمېره دي چې يوازې الله ج يې په شمېر خبر دی، ځينې يې مسلمان دي چې د جيحون پر څنډو شاوخوا ته پراته دي او د اور پالونکيو کفارو سره هغوی جهاد هم کوي، هغوی بنديانوي او په شاوخوا نږدې هېوادونو کې يې پلوري. دغه خلک تر خراسان، هند او عراق پورې تگ راتگ لري.

## څلورم اقليم

### د څلورم اقليم لومړۍ برخه

دغه اقليم له درېيم اقليم سره په شمال کې يو ځای کېږي. د دې برخې په لوېديځ لوري کې د محيط سمندر يوه مستطيلي ټوټه ده چې له جنوب نه پيلېږي او تر شماله غځېږي. جنوب لوري ته پر دې ټوټه د طنجه ښار ودان دی. د طنجې له ښکته برخې همدغه ټوټه د ۱۲ ميلو د تنگ خليج په بڼه د طريف او خضراء ټاپو تر منځ بهېږي چې شمال ته يې د خضراء ټاپو (الجزيره) او جنوب ته يې مجاز مانی او سبته پراته دي. دغه ټوټه د ختيځ لوري ته وړاندې درومي او داقليم د پنځمې برخې په منځ کې پای مومي، دا چې څومره وړاندې درومي پراخېږي، تر دې چې د دې اقليم څلور برخې په خپله لمن کې رانغاړي، د درېيم او پنځم اقليم ته نږدې نږدې پنځمه برخه هم چې وروسته به پرې رڼا اچوو هغو ته د شام سمندر وايي، ډېر ټاپوگان پکې دي چې په هغو کې لويې جزيرې لوېديځ لوري ته يابسه، مايرقه، منرقه، سردانيه او صقليه (سسلي) په هغو کې تر ټولو لوی ټاپو دی، بيا بلونس، اقريطش او ورپسې قبرص دي، موږ به دا ټول پر خپل ځای بيان کړو. د دې اقليم د درېيمې برخې له پايه او د پنځم اقليم د درېيمې برخې له منځه د روم له سمندرگي د بنادقه خليج راوتی دی چې د شمال لوري ته درومي او د دې برخې له منځه د لوېديځ په لوري گرځي د پنځم اقليم تر دوهمې برخې پورې رسېږي او پای مومي. د روم له سمندرگي نه د قسطنطنيې خليج هم راوزي، دا د پنځم اقليم د څلورمې برخې په پای کې شمال لور ته په ډېره کم سورې تنگۍ کې تېرېږي تر دې چې غيشي پکې رسېږي، د اقليم تر پايه درومي او د شپږم اقليم تر څلورمې برخې پورې رسېږي، بيا د شپږم اقليم تر بشپړې او يا د پنځمې برخې او د شپږمې برخې له نيمايي برخې تېرېږي د ختيځ لوري ته د تور سمندرگي لوري ته ورگرځي، چې موږ به په خپل ځای کې پرې رڼا واچوو. له دې ځايه د روم سمندرگی له محيط سمندره وزي په درېيم اقليم کې د طنجه خليج په نامه پراخېږي، نو د خليج سهيل لوري ته يوه وړوکې ټوټه پاتې کېږي، پر همدې ټوټه په مجمع البحرين کې د طنجه ښار پروت دی، له طنجې وروسته د روم په سمندرگي کې د بسته ښار دی، ورپسې قطاون دی، بيا باديس دی، بيا سمندر په ختيځ کې د دې برخې توره برخه په اوبو کې ډوبوي او درېيمې برخې ته وزي. په دې برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ډېره آبادي دې لوري او د خليج شمال لوري ته ده، دا ټوله د اندلس سيمه ده. د دې لوېديځه برخه د محيط سمندر او روم سمندرګي تر منځ ده، چې لومړی ښار يې له مجمع البحرين سره طريف دی. د طريف ختيځ ته د روم سمندرګي پر غاړه خضرا ټاپو، بيا مالطه ورپسې منقب او بيا مريه دي، له مريه ښکته د محيط سمندر لوېديځ لوري ته هغو ته نږدې شريق دی، بيا لبله ده، لبله ته نږدې په محيط سمندر کې قادس ټاپو دی، د شريق او لبله ختيځ لوري ته اشبيليه ورپسې اشتجه، قرطبه او مدليه او بيا غرناطه، جيان او ابده او بيا ورپسې داداياش او بسطه پراته دي. تر هغو لاندې شنتمريه او سلب دي چې د لوېديځ لوري ته په محيط سمندر کې دي. د هغو دواړو ختيځ لوري ته بلطيوس او ماروه او يابره، ورپسې غافق او بزجاله بيا فلعه او رياح دي، پر محيط سمندر د لوېديځ لوري ته تر هغه لاندې اشبوته دی او ختيځ لوري ته د باجه نهر پر غاړه شنترين دی. همدلته موزيه ده، بيا قنطره السيف دی، اشبوينې ته مخامخ ختيځ لوري ته د شارات غر دی چې له هغه ځايه له لوېديځه پيلېږي او د ختيځ لوري د شمال تر وروستی برخې پورې رسېږي او د سالم ښار په نيمايي کې پای مومي. د دې غره کوزنۍ خوا ته د نورنه ختيځ لوري ته طليطله ده، بيا الحجاره دره ده، بيا سالم ښار دی، د همدې ښار د لومړۍ برخې او اشبونه تر منځ د قلمريه ښار دی. دا ټول د اندلس لوېديځه برخه ده، د اندلس ختيځ لوري ته د روم سمندرګي پر غاړه له مريد وروسته قرطاجنه ده، بيا لفته، ورپسې دانيه تر هغه وروسته بلنسيه، تر ترتوشه پورې ده چې دا د ختيځ وروستۍ برخه ده، تر دې لاندې شمال لور ته ليورقه او شقوره دي، دا دواړه له بطة او قلعة الرياح سره يو ځای شوې دي چې دا له لوېديځ اندلس سره تړاو لري. ختيځ لوري ته مرسيه ده بيا په شمال کې تر بلنسيه لاندې شاطبه ده، بيا شقر ورپسې طرطوشه او بيا طرنوله ده چې د دې برخې په پای کې ده، بيا شمال لوري ته تر دې لاندې د منجاله او ريده سيمې دي چې لوېديځ لوري ته له شقوره او طليطله سره نښتې دي، بيا تر طرطوشه لاندې ختيځ لوري ته افراغه او شمال لوري ته يانې د سالم ښار ختيځ لوري ته قلعة ايوب او بيا سرقطه او بيا لارده دي چې په شمال ختيځ کې وروستی ښار دی.

## د څلورم اقليم دوهمه برخه

د دې اقليم دوهمه برخه تر اوبو لاندې ده، خو په شمال کې لږ لوېديځه برخه وچه ده، په دې کې د برنات غره (برناټ) پاتې برخه ده، يانې دغه غر ګرنګونه لري، که څوک د پنځم اقليم د لومړۍ برخې له وروستيو نه روان شي نو دې ته به ورسېږي، دا د محيط سمندر په وروستۍ غاړه او د پنځم اقليم د لومړۍ برخې له وروستيو څخه پيلېږي د جنوب ختيځ لور ته درومي او له جنوب نه يو څه د ختيځ لوري ته لږ بېرته د څلورم اقليم له لومړۍ برخې نه دوهمې برخې ته ورځي. دلته په هغو کې درې دي، چې د ورسره نښتې هوارې په لور درومي چې د فشکونيه خاوره ورته وايي. په دې کې د خريده او قرقشونه ښارونه ودان دي، د همدې برخې د روم سمندرګي پر غاړه د بارسلونا ښار ودان دی، بيا اربومنه دی، بيا په دې سمندر کې چې دغه برخه يې تر فشار لاندې ده ډېر ټاپوګان شته دي چې زياتره يې د وړوکوالي له لامله له اوسېدونکو تش دي، خو د لوېديځ لوري ته يې د سردانيه ټاپو دی او ختيځ لوري ته يې صقيله (سسلي) ټاپو دی، چې څلورو خواو ته پراخ دی، ويل کېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا نر اوه سوه میله پورې راځرخي او ډېر ښارونه پکې ودان دي، چې مشهور يې سرقوسه، بلرم، طربغه، مازر او مسيني دي، دغه ټاپو د افريقا خاورې ته مخامخ دی او د دواړو تر منځ د عروش او مالطه ټاپوگان دي.

## د څلورم اقليم درېيمه برخه

د دې اقليم درېيمه برخه په اوبو کې ډوبه ده خو شمال لوېديځ لور ته د دې ټوټې تر اوبو لاندې نه دي. لوېديځ لوري ته د قلوريه سيمه ده، په منځ کې يې ابکيرده ده او په ختيځ کې د بنادقه آبادی دي.

## د څلورم اقليم څلورمه برخه

د دې اقليم څلورمه برخه هم تر اوبو لاندې ده، لکه چې مخکې ياد شوي د دې ټاپوگان هم ډېر دي او زياتره ښاړ او له آبادۍ تش دي. شمال لوېديځ لور ته يې د بونس او د اقريطش (کرت) ټاپوگان آباد دي، اقريطش د مستطيل په بڼه له منځنۍ برخې جنوب ختيځ لور ته تللی دی.

## د څلورم اقليم پنځمه برخه

د دغه اقليم پنځمه برخه هم تر اوبو لاندې ده، چې جنوب او لوېديځ ته د يوه لوی مثلث په بڼه ده، د دې مثلث لوېديځه برخه د دې برخې په پای کې ختمېږي او جنوبي څنډه يې نږدې $\frac{2}{3}$ ختمېږي او د دې برخې په لوېديځ کې $\frac{1}{3}$ برخه پاتې کېږي چې شمالي ټوټه يې د لوېديځ لور ته له سمندر سره موازي راگرځي، په سهيلي نيمايي کې يې د شام څوړې سيمې دي. د هغو په منځ کې لکام غر تېرېږي شمال ته د شام تر پايه پورې غځېدلی دی. بيا له هغه ځايه لوری بدلوي او د ختيځ او شمالي قطر په لور درومي، له راگرځېدلو وروسته د سلسله غرونو په نامه يادېږي. دغه غر له دې ځايه د پنځم اقليم په لور ځي او له گرځېدو وروسته په ختيځ کې د ټاپوگانو د ښارونو له يوې ټوټې تېرېږي او د ختيځ لور ته دوام کوي. بيا د لوېديځ په لور راگرځي چې خو سره يو ځای شوي غرونه يې په مخه کې څنډ کېږي او دغه غر د روم سمندرگي له بهرنۍ څنډې سره پای مومي. په دې کې ډېر ناوونه او درې دي چې دردب ورته وايي، دغه درې د ارمني آباديو په لور وړاندې درومي، په همدې برخه کې ارمني قومونه مېشت دي چې د دې غرونو او د سلسله غره تر منځ راغلي دي. سهيل ته د شام مخ څوړې سيمې دي او د لکام غر د روم سمندرگي او د وروستۍ برخې تر منځ له جنوب نه تر شماله غځېدلی دی. داسې چې د لومړۍ برخې په سهيل کې د سمندر پر غاړه انطرس ښار ودان دی چې له غزې او طربلس سره نښتی. دغه دواړه ښارونه د درېيم اقليم د سمندر پر غاړه پراته دي. د انطرطوس په شمال کې جبله بيا لازقيه ورپسې اسکندرونه او بيا سلوقيه آباد دی. تر هغو وروسته د شمال لوري ته د روم سيمه ده. د لکام غره (چې د سمندر له وروستۍ برخې سره د هغو د څنډې په منځ کې حايل دی) ته مخامخ د شام هغه پاسنۍ برخه ده چې سهيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېديځ لوري ته يې حصن الحواني دی. دغه کلا د حشيشة الاسماعيليه ؤ ده، چې اوسمهال د فدايانو په نامه مشهور دي او دغه کلا ته مصيات ويل کېږي، د انطرطوس ته مخامخ ده.

د غره ختيځ لوري ته دې کلا ته مخامخ د حمص شمال لوري ته د سليمه ښار دی او له مصيات نه شمال لوري ته د غره او سمندر تر منځ د انطاکيې ښار ودان دی او هغو ته مخامخ ختيځ لور ته مصره دی. د مصره ختيځ لوري ته مراغه او د انطاکيې شمال ته مصيصه دی، ورپسې اذنه او بيا طرطوس دی چې د شام وروستی برخه ده، د دې غره نه لوېديځ لوري ته د هغو ښارونو مخامخ قنسرين او بيا عين زربه دي. د غره ختيځ لوري ته د قنسرين سره موازي حلب دی، بيدو زربه ته مخامخ منبځ دی چې د شام وروستی ښار دی، د دروب ښي لوري ته د دروب او روم سمندرگي تر منځ د روميانو آبادۍ دي چې نن سبا د ترکي حکومت تر حکم لاندې دي، د هغوی حاکم ابن عثمان دی د دغو کليو د سمندر پر غاړه د انطاکيې او علايا ښارونه ودان دي. په ارمني آباديو کې چې د درو لرونکي غره او د سلسله غرونو تر منځ دي د مرعش، ملطيه او مصره ښارونه هم دي چې د شمال تر وروستيو برخو آباد دي. د دې اقليم په پنځمه برخه کې په ارمني ښارونو کې د جيحون او د هغه ښي اړخ ته د سمون سيندونه تېرېږي، جيحون جنوب لور ته بهېږي له درو نه وړاندې تېرېږي طرطوس او بيا له مصيصې نه تېرېږي، بيا شمال لوري ته گرځي تر دې چې د سلوقيه په جنوب کې د روم سمندرگي ته ورلوېږي. په همدې ډول د سيحون سيند جيحون ته مخامخ د معرة او مرعش سره موازي بهېږي د درو لرونکي غره نه وړاندې شام ته ننوزي. بيا عيش زربه ته بهېږي او تر جيحون سيند وړاندې تېرېږي. بيا شمال لوېديځ لور ته گرځي له مصيصې سره په څنگ کې تېرېږي او په لوېديځ کې له جيحون سره يو ځای کېږي.

د ټاپو د آباديو جنوب لوري ته چې د لکام غره گرځندی او سلسله غره په منځ کې رافضه، رقه، حران، سروج، رها، نصيبين او سمياط آباد دي، آمد د سلسله غره لاندې د شمالي برخې په وروستيو کې دی، دا د ختيځې برخې پای هم دی. د همدې ټوټې په منځ کې د فرات او دجلې سيندونه بهېږي. دا دواړه له پنځم اقليم څخه راوزي او په جنوب کې له ارمني آباديو تېرېږي تر سلسله غره وړاندې تېرېږي.

اوس د فرات سيند له سمياط او د سروج له لوېديځه وزي ختيځ لوري ته گرځي د رافضه او رقه تر څنگ تېرېږي او د شپږمې برخې په لور درومي. دجله د آمد له ختيځه درومي او ډېر زر د ختيځ لور ته مخه کوي او د شپږمې برخې په لور ځي.

## د څلورم اقليم شپږمه برخه

د دې اقليم په شپږمه برخه کې لوېديځ لوري ته د جزيرې ښار دی، د جزيرې د ښارونو ختيځ ته د عراق ښارونه دي چې له هغو سره يو ځای شوي دي او نږدې د دې برخې په پای کې ختمېږي. د عراق له پايه د اصفهان غر پيلېږي چې د دې برخې له سهيل نه لرې تېتېږي او وړاندې درومي، چې بيا په شمال کې وروستی برخې ته رسېږي راگرځي او له شپږمې برخې وزي، سيده وړاندې درومي په پنځمه برخه کې له سلسله غره سره گډېږي، چې په شپږمه برخه کې بيا په لوېديځ او ختيځ دوو ځانگو وېشل کېږي. د لوېديځې څانگې له جنوب لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې د اقليم په پنځمه برخه کې د فرات سيند ترې سرچينه اخلي او له شمال څخه يې د دجلې سيند، فرات شپږمې برخې ته درومي او له قرقيسيا څخه تېرېږي، دلته له هغو نه يو بل ښاخ بېلېږي چې شمال لوري ته درومي او د جزيرې خاورې ته ننوزي، هلته پر څلورو لوريو را گرځي او پای مومي. فرات له قرقيسيانه تېرېږي او ډېر زر د جنوب لوري ته مخ اړوي، له خابور سره نږدې تېرېږي د رحبه تر لوېديځ پورې رسېږي هلته څو څانگې ترې بېلېږي چې له هغو نه يې ځينې څانگې له کوفې تېرېږي، ځينې يې د بن ابي بعيره له مانې او جامعين نه. بيا دا ټولې څانگې د دې برخې جنوبي لوري ته تر درېيم اقليم پورې رسېږي، هلته د حيره او قادسيې د ختيځ لوري ته راگرځي.

فرات له رحبة څخه د ختيځ په لور بهېږي سيده د هيت شمال ته رسېږي. بيا د زاب او انبار له سهيل څخه تېرېږي بغداد ته نږدې له دجلې سره يو ځای کېږي. د دجلې سيند کله چې له پنځمې برخې څخه شپږمې ته ننوزي او دابن عمر د ټاپو شمال ته له موصل او تکريت نه تېرېږي او حديثه ته رسېږي نو بيا سهيل لور ته اوړي، په ختيځ کې له حديثه نه تېرېږي ذاب کبير او ذاب صغير هم ختيځ لور ته پرېږدي سيده له سهيل نه د قادسيې په لور درومي او بغداد ته رسېږي او د فرات له سيند سره يو ځای کېږي، بيا په سهيل کې د جرجرايا له لوېديځه تېرېږي او د درېيم اقليم يوې برخې ته ورځي. دلته يې څانگې او نهرونه خپرېږي او بيا دا ټولې څانگې بېرته سره يو ځای کېږي او له عبادان سره د فارس خليج ته ورتويېږي.

په بغداد کې تر يو ځای کېدو مخکې د دجلې او فرات په دوآبه کې د جزيرې ښار پروت دی. کله چې دجله تر بغداد وړاندې تېر شي نو يو بل سيند چې له شمال ختيځ نه راځي ورسره يو ځای کېږي. دغه مرستندوی سيند بغداد ته مخامخ د ختيځ له لوري د نهروان ښارونو ته درومي بيا سهيل ته مخه کوي او په درېيم اقليم کې له ورننوتلو مخکې له دجلې سره يو ځای کېږي، د همدې سيند او د عراق او عجم د غرونو په منځنۍ سيمه کې د جلولا ښار دی او د هغو ختيځ لوري ته له غره سره حلوان او حيمره ښارونه دي، د دې برخې په لوېديځه ټوټه کې يو غر شامل دی چې د اعاجم له غره نه پيلېږي او د ختيځ په لور غځېږي، او تر وروستۍ څنډې پورې رسېږي، دې ته د شهر زور غرونه وايي، دغه غر هم د نهر لوېديځه برخه په دوو ټوټو وېشي، د دې وړوکې ټوټې سهيل ته او د اصفهان شمال لوېديځ ته د خونجان ښار دی، دې ټوټې ته بلد هلوس وايي او په منځ کې يې د نهاوند ښار دی او د نهاوند شمال ته هلته چې دوه غرونه سره يو ځای کېږي لوېديځ لوري ته يې زور ښار دی او د هغو په پای کې دينور ښار دی، په دوهمه وړوکې ټوټه کې د ارمينيا د سيمې يو څه برخه شامله ده، چې پلازمېنه يې مراغه ده، د عراق غره ته مخامخ چې کومه برخه آباده ده باريا ورته ويل کېږي، دا د کردانو استوگنځايونه دي او زاب کبير او زاب صغير چې پر دجله پراته دي د دې شا ته دي. د دې ټوټې په پای کې ختيځ لوري ته د آذربايجان ښار ودان دی چې تبريز او بيدقان هم پکې شامل دي. د دې برخې په شمال ختيځه گوښه کې د تيطش سيند يوه برخه هم ده چې دلته ورته د خزر سيند وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم اقليم اوومه برخه

د دې اقليم د اوومې برخې سهيل لوېديځ ته زياتره د هلوس ښار راغلی دی چې همدان او قزوين هم پکې شامل دي. د هلوس پاتې برخه په دريېم اقليم کې ده چې په هغو کې اصفهان هم دی، دغه ځمکه په سهيل کې يو غره راښکېل کړې ده چې د دې لوېديځ لوري ته تللی د دريېم اقليم له شپږمې برخې نه تېرېږي او څلورم اقليم ته ننوزي او بيا د ختيځ له لوري د عراق له غرونو سره يو ځای کېږي. د عراق د غره يادونه تېره شوه او دا مو هم وويل چې د هغو په ختيځې توټې کې د هلوس ښارونه په لمن کې نغښتي دي. دغه غر چې پر اصفهان راګرځېدلی له دريېم اقليم نه د شمال لور ته ښکته شوی د هغو اوومې برخې ته تللی دی او له ختيځه د هلوس ښارونه په غېږ کې رانغاړي. دلته تر هغه لاندې کاشان دی، بيا قم دی او بيا نږدې نيم واټن وهي لږ لوېديځ لوري ته مخه کوي، بيا په دايروي ډول بېرته راګرځي او د ختيځ او بيا شمال لور ته مخه ګرځوي او وړاندې ځي، تر دې چې د پنځم اقليم لور ته ځي. د هغو په ګرځنيو کې د ري ښار ودان دی. د دې له لوري اړولو سره يو بل غر هم پيلېږي چې تر لوېديځه د دې برخې تر پايه غځېدلی دی، دلته يې جنوب لوري ته د قزوين په شمال کې او د ري شمال ختيځ لور ته له هغو سره تر منځنۍ برخې پورې نښتی، بيا تر پنځم اقليم پورې د دغو غرونو او د طبرستان د يوې برخې په منځ کې د طبرستان ښار دی، له پنځم اقليم نه دې برخې ته داخلېږي له لوېديځه د ختيځ تر نيمايي برخې پورې د ري غره ته نږدې د جرجان آبادی دي چې بطام هم پکې دی، د دې غره شا ته د دې برخې لږ ساحه شته چې په پاتې برخه کې يې ځنګلونه دي چې د فارس او خراسان تر منځ واقع دي او د کاشان په ختيځ کې دي. د دې ځنګلونو په پای کې له غره سره نږدې د استر آباد ښار پروت دی او د دې برخې تر پايه ختيځ ته د نېشاپور ښار دی، بيا تر وروستۍ برخې پورې مرو شاه جهان دی، د هغو شمال ته د جرجان ختيځ لوري ته او د دې برخې په وروستي ختيځ لوري کې مهرجان، خارزون او طوس پراته دي. دا ټول د غرونو په منځ کې دي. د هغو شمال ته د نسا سيمه ده چې له شمال او ختيځ نه په ډېرينو ميدانونو رااحاطه شوې ده.

## د څلورم اقليم اتمه برخه

د دغه اقليم په اتمه برخه کې لوېديځ لوري ته د جيحون سيند دی چې له جنوب نه شمال لور ته بهېږي، د دې سيند په لوېديځه غاړه د خراسان رمم او آئل آباد دي، همدارنګه د خوارزم د سيمې ظاهريه او جرجانيه دي. دا له سهيل لوېديځ لوري استر آباد په غېږ کې نيسي چې په اوومه برخه کې دی او د اتمې برخې د مغرب لور ته وړاندې ځي، په دې زاويه کې د هرارف او جوزجان پاتې برخې دي تر دې چې د بتم له غره سره يو ځای کېږي. لکه چې هلته مو يادونه وکړه دلته د جيحون سيند په ختيځ کې او د دې برخې په سهيل کې بخارا ده، بيا صغد دی. د صغد پلازمېنه سمرقند دی، ورپسې سردار او اشنه سيمې دي، ختيځ لوري ته جنجيده دي چې همدلته دغه برخه پای مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د سمرقند، اشنه او د اشنه په شمال کې د ایلاق سیمې دي، بیا د هغو شمال لوري ته د شاش علاقه ده، همدلته د ختیځ لوري ته دغه برخه پای مومي د دغه ټوټې په جنوب کې د فرغانې پاتې سیمه ده.

## د څلورم اقلیم نهمه او لسمه برخه

له دې ټوټې نه چې په نهمه برخه کې ده د شاش (چاچ) سیند راوزي چې د اتمې برخې له ساره څخه تېرېږي او د جیحون په سیند کې په هغه ځای کې ورتویېږي چې له اتمې برخې تېرېږي او د پنځم اقلیم په لور بهېږي. له دې سره د ایلاق له سیمې سره یو بل سیند هم یو ځای کېږي، چې د تبت له سرحد نه د درېیم اقلیم له نهمې برخې څخه راځي، او پخوا تر دې چې له نهمې برخې ووزي له هغه سره د فرغانې سیند هم یو ځای کېږي. د شاش سیند لوري ته د جبراغون غر دی چې له پنځم اقلیم څخه پیلېږي، ختیځ لوري لږ شمال ته متمایل ورګرځي په نهمه برخه کې شاش راګیروي او بیا وړاندې درومي، بیا نهمې برخې ته مخه کوي او له هغه ځایه شاش او فرغانه رانغاړي او درېیم اقلیم ته داخلېږي. د دې برخې په منځ کې د شاش سیند او د هغو د غره د یوې برخې تر منځ د فاراب سیمې دي. او د دې او د بخارا او خوارزم د سیمو تر منځ شګلن میدانونه دي. د دې برخې شمال او ختیځ کونج ته د خجند سیمه ده. چې په هغو کې اسبیجاب او طراز آباد دي. د دې اقلیم په لوېدیځه نهمه برخه کې د فرغانې او شاش له سیمو وروسته په سهیل کې خزلجیه سیمه ده او په شمال کې د خلیجه ځمکې او په ټوله ختیځه برخه کې د ګیماکیه سیمې دي چې ټوله لسمه برخه یې نیولې او د قوقیا (قاف) سره چې په ختیځ کې په وروستۍ څنډه دی نښلي. د محیط سمندر پر څنډه د یاجوج او ماجوج غر (قاف غر) دی دا ټول قومونه له ترکي قبیلو سره تړاو لري.

## پنځم اقلیم

## د پنځم اقلیم لومړۍ برخه

د پنځم اقلیم زیاتره برخه په اوبو کې ډوبه ده، البته لږه برخه یې سهیل او ختیځ لوري ته تر اوبو راوتلې، دا چې محیط سمندر د دې برخې له لوېدیځ لوري نه په پنځم، شپږم او اووم اقلیم کې شاملېږي کومه برخه چې سهیل لوري ته له اوبو راوتلې د مثلث په څېر ده او له اندلس سره یو ځای شوې ده، په همدې کې د اندلس پاتې برخه لیدل کېږي چې سمندر له دوو لوریو څخه را ایساره کړې ده لکه چې د مثلث دوې څنډې وي، داسې چې د لوېدیځ اندلس له پاتې برخې څخه د سمندر پر څنډه د سهیل او لوېدیځې برخې په پیل کې د سعیور ښار ودان دی، د هغو ختیځ ته سلمنکه دی، په منځ کې یې سموره دی، د سلمنکه ختیځ لوري ته ایله دی چې د سهیل په پای کې دی، د هغو ختیځ لوري ته د قستالیه سیمه ده چې د شقونیه ښار پکې آباد دی، د هغو شمال ته بیا د لیون او برغشت ځمکه ده، بیا د هغو شا ته د شمال لوري ته د جلیقیه سیمه ده چې د دې مثلث تر زاویې پورې غځېدلې ده، د لوېدیځې ضلعې په پای کې د سمندر پر غاړه شنیتاقو ( د یعقوب ښار) آباد دی، په دې برخه کې د ختیځ اندلس مشهور ښار شطیله ودان دی لکه په سهیل کې چې قساله دی. بیا د قساله او برغشت تر منځ ناجزه دی، د ځمکې د دې ټوټې په منځ کې یو لوی غر لیدل کېږي چې د شمال ختیځې څنډې او سمندر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



موازي پروت دی پخوا تر دې چې په څلورم اقلیم کې له روم سمندرګي سره یو ځای شي دغه غر د دې ضلعې او سمندر سره د نیلونه سره نږدې په ختیځ کې یو ځای کېږي.

ګواکې دغه غر له ختیځ لوري د اندلس د خوندي کولو لپاره یو طبیعي دېوال دی. د دې غره لارې او درې د غشکونیه ښارونو په لور وتلې دي چې یو انګریزی قام دی، له هغوی سره په څلورم اقلیم کې د روم سمندرګي پر څنډو کرشکونه او بونه ودان دي، د هغوی دواړو شا ته په شمال کې خریده او مرقشونه دي. او په پنځم اقلیم کې د خریده شمال ته طلوشه دی، او په دې برخه کې چې د ځمکې یوه هواره ټوټه ختیځ لوري ته ده د مثلث په بڼه ده چې حاده زاویه یې ختیځ لوري ته د برنات «پیرینه» غره شا ته ده. په دې برخه کې د محیط سمندر پر څنډه په هغه برخه کې چې د برنات غر دی د ینونه ښار آباد دی، د دې برخې په شمال ختیځه ګوښه کې د دې ټوټې په پای کې تر پایه د نیطو سیمې دي چې انګریزی قام دی.

## د پنځم اقلیم دوهمه برخه

د دې اقلیم په دوهمه برخه کې لوېدیځ لوري ته د غشکونیه سیمه ده او په شمال کې یې د نیطو او برغشت ځمکې دي چې پاس مو یې یادونه وکړه. د غشکونیه د ختیځې برخې شمال ته د ځمکې یوه ټوټه د روم له سمندرګي نه د داړې په څېر راوتلې ده. چې د ختیځ لوري ته یو څه کږه شوې ده، د غشکونیه سیمه د هغو په لوېدیځ کې د سمندر تر خلیج پورې ورننوتلې ده، د دې ټوټې په شمالي سر کې د جنوه آبادۍ دي، شمال ته دې ته مخامخ د نیت جون غر دی، د هغو شمال ته مخامخ د برغونه خاوره ده، په ختیځ کې د جنوه له هغه ټوټې نه چې د روم له سمندرګي راوتلې بله ټوټه ده چې له سمندرګي راوتلې، د دې دواړو ټوټو تر منځ یو خلیج دی چې په وچه کې ننوتلی دی. د دې خلیج لوېدیځ لوري ته نیش دی، او ختیځ لوري ته یې د رومة الکبرا ښار دی چې د فرنګي پاچاهانو پلازمېنه ده، د دوی د پاپ (لوی پادري) او پطریق اعظم هستوګنځی دی. د هغو شاندارې ودانۍ او حیرانوونکې عبادتخونې او غیر معمولي کلیساګانې په نړۍ کې مشهورې دي. په دې کې حیرانوونکې نهرونه دي چې د دې ښار په زړه کې له ختیځه لوېدیځ لوري ته بهېږي او د اوسپنې پر فرش بهېږي، په دې ښار کې د پطرس او بولس کلیساوې دي چې د حضرت عیسی ع ملګري وو او همدلته ښخ شوي دي. د روم د ښار شمال ته د دې برخې په پای کې د افترنصیصه (فرانسې) آبادۍ دي، او د روم سمندرګي پر هغه څنډه چې د روم ښار دی، ختیځ ته یې د ناپل سیمه ده چې له قلوریې ښار سره چې یو انګریزی ښار دی یو ځای شوی. شمال ته یې د بنادقه خلیج یوه برخه ده چې په دریېمه برخه کې دلته د لوېدیځ او شمال لوري ته وړاندې ننوزي، او نږدې د دې په نیمایي کې پای مومې. پر همدې برخه د بنادقه «ونیز» ډېرې آبادۍ دي، چې له جنوب لوري نه د محیط سمندر او دې برخې په منځ کې پیلېږي. په شپږم اقلیم کې شمال لوري ته د انکلایه آبادۍ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم اقليم درېيمه برخه

د دې اقليم د درېيمې برخې لوېديځ لوري ته د بنادقه خليج او روم سمندرګي تر منځ د قلوريه کلي دي. چې له ختيځ لوري د روم سمندرګي را ايسارې کړې، په څلورم اقليم کې د دې کليو په وچه سيمه کې د روم سمندرګی د يوه خليج په بڼه يو ځای شوی دی چې د دوو څنډو تر منځ دی چې له سمندر نه راوتلې او د شمال لوري ته تر يوې برخې پورې راغلی دی. د قلوريه ختيځ لوري ته د انکيرده آبادۍ دي چې د بنادقه خليج او روم سمندرګي تر منځ په ټاپو وزمې کې دي. د بنادقه خليج دغه د شمال په لور غځېدلې آبادۍ له ختيځ لوري را ايسارې کړې دي. بيا دغه خليج د شمال په وروستۍ برخه کې د لوېديځ په لور مخه اړوي او خليج ته مخامخ موازي په څلورم اقليم کې يو لوی غر دی چې د هغه د ساتونکي په څېر د شمال لور ته غځېدلی او بيا شپږم اقليم ته ننوزي او له دې سره بيل د لوېديځ لور ته ګرځي، تر دې چې خليج ته مخامخ شمال لوري ته د انکلايه په آباديو کې پای ته رسېږي. دا د جرمن قومونو آبادۍ دي چې وروسته به يې بيان راشي. په دې خليج او د خليج او غره تر منځ تر کومه ځايه چې دواړه غځېدلي دي دبنادقه کلي دي، کله چې دا دواړه د لوېديځ پر لور ادامه کوي نو د دوی تر منځ په حروايا کې او د خليج پر څنډو جرمن قومونه دي.

## د پنځم اقليم څلورمه برخه

د دې اقليم په څلورمه برخه کې د سهيل لور ته د روم سمندرګي يوه برخه ورننوتلې ده چې د څلورم اقليم په لور تللې ده او د پنډې داړې (غابس) په څېر ده، همدغسې د شمال لور ته راوتلې ده او د دې دوو ټوټو تر منځ يو وړوکی خليج دی. د دې برخې په پای کې د ختيځ سمندر ټوټې دي چې په شمال کې يې د قسطنطنيې خليج وتلی دی. دغه خليج له جنوبي څنډې څخه د شمالي څنډې په لور درومي تر دې چې شپږم اقليم ته ننوزي. هلته سمدستي د ختيځ په لور مخه کوي او تر نيطش سمندر پورې وړاندې ځي. چې په پنځمه برخه او تر هغو وړاندې لږ برخه په څلورمه برخه او تر هغو وروسته په شپږم اقليم کې دي، چې وروسته به رڼا پرې واچوو. د قسطنطنيې ښار د دې خليج ختيځ لوري ته دی او د دې برخې په پای کې شمال لوري ته پروت دی. دا يو لوی ښار دی چې د رومي امپراتورانو پلازمېنه وه. په دې کې د لويو ودانيو او پنډو دېوالونو نښې دومره زياتې دي چې کيسې يې په عامو خلکو کې ډېرې مشهورې دي. د دې برخې په هغه ټوټه کې چې د روم سمندرګي او قسطنطنيې د خليج تر منځ دي د مقدونيې کلي دي چې د يونانيانو تر حکم لاندې پاتې شوي دي. په همدې کليو کې د دوی د هېواد لومړی بنسټ کېښودل شو. د دې خليج ختيځ لوري ته تر آخره د باطوس د ځمکې يوه برخه ده. زما په اند په هغه وخت کې دغه قوم د ترکمنو د واکمنۍ برخه ده او د ابن عثمان واکمني پرې ټينګه ده، پلازمېنه يې برصه ده، دوی د بېلابېلو قومونو تر حکم لاندې اوسېدلي دي تر دې چې اوس د ترکمنانو تر حکم لاندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پنځم اقليم پنځمه برخه

د دې اقليم په پنځمه برخه کې په سهيل لوېديځ کې د باطوس سيمه ده، د باطوس شمال ته تر وروستۍ برخې پورې د عموريه ټاټوبی دی، د عموريه ختيځ لوري ته د قباقب سيند بهېږي چې د فرات سيند مرستيال دی او همدلته له يوه غره نه راوزي او جنوب لور ته بهېږي تر دې چې له فرات سره يو ځای شي. تر دې وړاندې چې فرات له دې برخې ووزي او څلورم اقليم ته ننوزي چې قباقب او فرات سره يو ځای شي له دې نه لوېديځ لوري ته تر وروستۍ برخې پورې د سيحون سيند خوله ده او بيا يې لوېديځ لور ته د سيحون نهر دی. دغه دواړه سيندونه سيده بهېږي چې پاس يې يادونه شوې ده، همدلته د فرات سيند ختيځ لوري ته د دجلې سيند خوله ده چې له هغو برخې سره موازي بهېږي تر دې چې له بغداد سره له فرات سره د سهيل او ختيځ تر منځ په زاويه يو ځای کېږي. د هغه غره تر شا چې د دجلې سيند ترې راوزي د ميافارقين ښار دی، د قباقب سيند چې پاس يې يادونه وشوه دغه برخه په دوو ځانګو وېشي، يوه سهيل لوېديځ لوري ته چې د باطوس څمکې دي او له باطوس نه ښکته تر وروستۍ برخې شمال لوري ته او د هغه غره شا ته چې قباقب سيند ترې سرچينه اخلي د عموريه ټاټوبی دی، بله شمال ځانګه ده، جنوب لوري ته له دې ځايه ۱/۳ واټن کې د فرات او دجلې سر بندونه دي او شمال لوري ته له عموريه ټاټوبي سره نښتی د قباقب غر شا ته تر ډېره ځايه د بلتان خاوره غوړېدلې ده او د فرات له سربند د خولې، سره نږدې د حرشنه ښار ودان دی او په شمال ختيځ کې دنيطش سمندرګي يوه ټوټه ورسره يو ځای شوې چې د قسطنطنيې خليج يې مرستيال دی.

## د پنځم اقليم شپږمه برخه

د دې اقليم په شپږمه برخه کې جنوب لوېديځ ته د ارمينيا غبرګ ښارونه دي چې له ختيځه پيلېږي او د دې برخې تر نيمايي پورې رسېږي. د دې آباديو سهيل لوېديځ ته اردن دی او شمال ته يې تفليسن او دبيل دي، د اردن ختيځ ته د خلاط او بردعه ښارونه دي، او سهيل ته لږ د ختيځ په لور شا ته د ارمينيا ښار دی، له دې ځايه د ارمينيا سيمه پيلېږي او تر څلورم اقليم پورې غځېږي، هلته د اکراو (ارمای) د غره په ختيځ کې مراغه ښار ودان دی. د دې غره يادونه د څلورم اقليم په شپږمه برخه کې راغلې ده. په دې برخه او څلورم اقليم کې ختيځ لوري ته د آذربايجان سيمه له ارمينيا سره نښلي، د دې برخې په پای کې د اردبيل سيمه ده چې د طبرستان د سمندرګي پر يوه ټوټه ده، دغه ټوټه په دې سيمه کې له ختيځ لوري له اوومې برخې راغلې، دې ته د طبرستان سمندرګی وايي، پر دې د ټاپو شمال لوري ته د خزر (ترکمن) آباديو ځينې برخې دي. د دې سمندري ټوټې په وروستۍ برخه کې شمال لوري ته څو غرونه پيلېږي چې سره ورته لوېديځ لور ته تر پنځمې برخې پورې رسېږي، بيا په پنځمه برخه کې راګرځي، ميا فارقين په غېږ کې اخلي او څلورم اقليم ته نږدې تېرېږي او د شام په مخ څوړو کې له سلسله غره سر يو ځای کېږي، له لکام غره سره هم چې يادونه يې تېره شوې ده، په دغو شمالي غرونو کې په دې برخه کې د دروازو په څېر درې او ناوونه دي چې دواړو لوريو ته وتلي دي. د دوی جنوب ته د (دربند ولايت) سيمه ده، چې ختيځ ته د طبرستان تر سمندره پورې رسېږي، په همدغه طبرستان سمندرګي کې

د باب الابواب ښار دی او سهیل لوري ته په لوېدیځ کې له ارمینیا ښار سره یو ځای کېږي. په ختیځ کې باب الابواب او ارمینیا او د جنوبي آذربایجان تر منځ د زاب سیمه ده چې په طبرستان سمندرگي پورې نښتې ده. د دې غرونو شمال لوري ته د دې برخې یوه ټوټه ده چې لوېدیځ لور ته یې په شمال لوېدیځ څنډه کې د سریر حکومت دی. له دې ټولې برخې سره د د نیطش ټوټه هم یو ځای شوې ده چې د قسطنطنیې خلیج یې مرستندوی دی چې یادونه یې پاس شوې ده، او د سریر هېواد چې پرې راخپور دی، په همدې څنډه اطربزیده ودان دی، بلاد سریر د ابواب غره او د شمال په منځ کې له هغه برخې سره یو ځای کېږي آن تر دې چې په ختیځ کې پر همدې غره پای مومي چې د هغو او د خزر د ځمکو تر منځ ولاړ دی. د هغو وروستی ښار صول دې غره ته نږدې دی. دغه په منځ کې د درېدلي غره شا ته د خزر یوه برخه ځمکه ده چې د هغو برخې په شمال ختیځه زاویه پای مومي چې د طبرستان له سمندرگي سره یو ځای کېږي. او په شمال کې د دې برخې تر پایه رسېدلې ده.

## د پنځم اقلیم اوومه برخه

د دې اقلیم اوومه برخه ټوله په لویدیځ کې په طبرستان سمندرگي کې ډوبه ده، په څلورم اقلیم کې په طبرستان سمندرگي کې سهیل ته یوه وچه ټوټه شته چې یادونه یې مخکې شوې ده. پر هغو د طبرستان سیمه آباده ده او د ویلم غر هم چې تر قزوین پورې غځېدلی دی، دغه په اوبو کې ډوبې ټوټې په لوېدیځ کې یوه بله ټوټه ده ورسره یو ځای شوې چې د څلورم اقلیم په شپږمه برخه کې پرته ده، بیا د هغو له شمال نه یوه بله ټوټه ورسره یو ځای کېږي چې د شپږمې برخې په ختیځ لوري کې ده. د دې برخې یوه ټوټه د شمال لوېدیځ په زاویه پاس درومي چې په هغو کې اتل سیند د طبرستان په سمندرگي کې ورتوییږي، د دې برخې ختیځ لوري ته یوه ټوټه له اوبو خوندي پاتې ده، چې (غز) ترکي قوم هلته مېشت دی چې د جنوب له لوري یو غر پرې را گرځېدلی دی چې له اتمې برخې دې لوري ته راغځېدلی دی او لوېدیځ لور ته تللی دی، بیا د سمندر سره په څنگ څنگ کې تر شپږم اقلیم پورې تللی دی، بیا جنوب لوري ته گرځي او د پنځم اقلیم تر شپږمې برخې پورې رسېدلی دی. د دې غره په همدې برخه کې او د سریر د ځمکې تر منځ دېوال دی او د خزر له ځمکو په شپږمه او اوومه برخه کې د دغه غر (تور غر) څنډې سره یو ځای کېږي چې وروسته به پرې غږېږو.

## د پنځم اقلیم اتمه برخه

د دغه اقلیم اتمه برخه د (غز) ترکانو د یوه کوچي قوم د کېږدیو ځایونه دي، د دې لوېدیځ لوري ته د خوارزم سمندرگی (اورال) دی چې د جیحون سیند هم ورلوېږي، د دې جهیل مساحت ۳۰۰ میله دی، د غز سیمې ډېر نهرونه همدلته ورتوییږي، د دې شمال ختیځ ته د عرعون سمندرگی دی چې څلور سوه میله مساحت لري او اوبه یې خوږې دي. د دې برخې په شمالي کونج کې د مرغار غر (د واورو غر) دی ځکه چې دلته واوره هېڅکله هم نه اوبه کېږي دغه غر د دې برخې تر پایه غځېدلی دی. د عرعون سمندرگي په سهیل کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حجرالصلد غر دی، دا د عرعون په نامه مشهور دی ځکه خو يې سمندرگي ته عرعون وايي، پر دې غره څه شی نه را زرغونېږي، د سمندرگي شمال ته له دې غره او له مرغار غره نه ډېر خوړونه رالوېدلي دي چې شمېرل يې گران دي او له دواړو غاړو سمندرگي ته ورتوييږي.

## د پنځم اقليم نهمه برخه

د دې اقليم په نهمه برخه کې د ارکس قوم سيمه ده (د ترکانو بل قوم دی) چې د غز د سيمې لوېديځ لور ته ده او د کيماکيه په ختيځ کې ده، د دې ختيځ له لوري د دې برخې تر پايه قاف غر (د اورال غر) دی چې د ياجوج او ماجوج سيمه يې راښکېل کړې ده. دلته دغه غر له سهيل نه د شمال په لور پروت دی تر دې چې په لسمه برخه کې ورشاملېږي او مخه بدلوي. دلته دغه غر د څلورم اقليم د لسمې برخې له وروستيو نه پيل شوی او رانوتلی دی، هلته يې محيط سمندر په شمال کې تر وروستۍ برخې پورې په غېږ کې را ايسار کړی، او د څلورم اقليم د لسمې برخې تر نيمايي لږ کم د لوېديځ لور ته گرځېدلی او دې غره له پيله تر دې ځايه د کيماکيه سيمه رانغښتې ده بيا د پنځم اقليم تر لسمې برخې پورې تللی دی، او له هغه ځايه تر وروستۍ څنډې د لوېديځ په لور پراخ شوی دی. د دې برخې په سهيل کې يوه ټوټه شته چې تر لوېديځه مستطيله ده چې د دې غره له حدودو خوندي پاتې ده. دغه برخه د کيماکيه د سيمې له ختمېدو مخکې پای ته رسېدلې ده، بيا دغه ټوټه د نهمې برخې ختيځ لوري ته د هغو په پاسنۍ برخه کې تېرېږي لږ وړاندې درومي او د شمال لوري ته گرځي، بيا سيده درومي او د شپږم اقليم نهمې برخې ته رسېږي، پر دې ځای د ياجوج او ماجوج دېوال دی چې بيا به پرې رڼا واچوو. دلته هم د اقليم د دغه برخې شمال ختيځه زاويه د قاف غره له غېږې خوندي پاتې ده، دا هم مستطيل ډوله ساحه ده چې سهيل لوري ته پراخه شوې او په همدې کې د ياجوج او ماجوج سيمه ده، او الله ج تر هر چا ښه عالم او خبر دی.

# شپږم اقليم

## د شپږم اقليم لومړۍ برخه

د دې اقليم لومړۍ نيمايي برخې زياته په اوبو کې ډوبه ده، محيط سمندر له شمال لوري نه د ختيځ پر لور مخه اړولې او بيا د سهيل لور ته وتلی دی، خو په جنوب کې لږ وړاندې چې تللی پای مومي. ځکه خو په دې برخه کې د دې ځمکې يوه ټوټه وچه پاتې کېږي چې د سمندر د دوو لوريو په منځ کې ده او د محيط سمندر په سهيل ختيځ لوري کې د يوه خليج لوري ته پرته ده چې په ساره او اوږدو پراخه شوې ده. دا ټوله سيمه د برتانيې ده، د برتانيې د سيمې له پيل سره د دواړو طرفونو په منځ کې او د دې برخې د سهيل ختيځ په زاويه کې د صاقس آبادي دي چې د نبطو له آباديو سره يو ځای شوې دي چې بيان يې د پنځم اقليم په لومړۍ او دوهمه برخه کې تېر شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د شپږم اقلیم دوهمه برخه

د دې اقلیم په دوهمه برخه کې هم شمال لوري ته محیط سمندر ورننوتلی دی، د دې لوېدیځ ته یوه مستطیلي ټوټه ده چې له شمالي نیمايي برخې يې لويه ده، دغه ټوټه د برتانيې د هغه سيمې ختيځ لوري ته ده چې د دې اقليم په لومړۍ برخه کې پرته ده.

د دې ټوټې په شمال کې له لوېديځه تر ختيځه د سمندر بله ټوټه راغلې ورسره يو ځای شوې ده، چې د دې له لوېديځې نيمې برخې څخه يو څه پراخه ده او غوړېدلې ده، په همدې برخه کې دلته د انګلنډ ټاپو ځمکه ده، دا يو لوی ټاپو دی چې لوی لوی ښارونه پکې ودان شوي دي، او دا يو ډېر لوی هېواد دی. د دې ټاپو نوره برخه په اووم اقليم کې ده، د دې ټوټې په سهيل کې او د هغو په ټاپو کې چې د دې برخې په لوېديځه نيمايي برخه کې پرته ده، د ارمنديه او افلادش سره يو ځای شوې آبادۍ دي، بيا د دې برخې سهيل ته د فرانسې هېواد دی، د هغو ختيځ ته د برغونيه سيمې دي، دا ټوله سيمه د انګرېزانو ده، او د دې برخې په ختيځه نيمايي برخه کې د جرمني هېواد دی، د هغو سهيل ته د انکلايه سيمې دي او په شمال کې يې برغونيه دی. بيا د تهويکه او شطونيه سيمې دي او د محيط سمندر پر يوه ټوټه چې په شمال ختيځ کونج کې دی د افريره خاوره ده دا ټولې سيمې جرمن قومونه دي.

## د شپږم اقليم درېيمه برخه

د دغه اقليم په درېيمه برخه کې په لويديځ کونج کې جنوب ته د مراتيه کلي دي او په شمال کې د شطونيه په ختيځ کونج کې سهيل ته د انکويه (هنګري) کلي دي او شمال ته د بلونيه چې په منځ کې يې د بلواط غر درېدلی دی. دغه غر دې برخې ته له څلورمې برخې راغلی دی. او شمال لوري ته ګرځېدلی، له لوېديځه تېرېږي تر دې چې د شطونيه کليو ته راغلی او د لوېديځې نيمايي په پای کې ختم شوی دی.

## د شپږم اقليم څلورمه برخه

په څلورمه برخه کې سهيل ته د جثوليه ځمکې دي او تر هغو لاندې د روسيې هېواد دی، د دوی تر منځ د بلواط غر ولاړ دی چې له لومړۍ برخې د لوېديځ په لور راغلی او په ختيځه نيمايي برخه کې پای ته رسېدلی دی. د جثوليه په ختيځ کې د جرمانيه (جرمني) آبادۍ دي او جنوب ختيځ کونج کې د قسطنطنيې خاوره ده، د هغو ښار د هغه خليج په پای کې دی چې د روم له سمندرګي نه وزي او په توره بحيره کې ورننوزي. ځکه خو د تورې بحيرې يوه وړوکې ټوټه په پاسنۍ برخه کې هم ليدل کېږي او دغه خليج د هغو مرستندوی دی، د دې دواړو په کونج کې مسيتاه آباد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شپږم اقليم پنځمه برخه

د شپږم اقليم په پنځمه برخه او څلورمې په پای کې د تورې بحيرې سره دغه تونه له خليج سره يو ځای کيږي او سيده د ختيځ لوري ته درومي. له دې تولې برخې او يو څه د شپږمې برخې نه له خپلې سرچينې نه ديارلس سوه ميله لرې په شپږ سوه ميله ساره کې ختميږي. د دې سمندر شا ته د دې برخې په سهيل کې له ختيځه تر لويديځه د وچې يوه مستطيلي ټوټه ده چې د هغو په لويديځ کې د تورې بحيرې پر غاړه هرقليه ده چې د پنځم اقليم د بالقان له سيمې سره يو ځای کيږي د دې ختيځ لوري ته د لانيه کلي دې چې پلازمېنه يې د تورې بحيرې پر غاړه سوتلي دی، د دې برخې په لويديځ کې د تورې بحيرې شمال ته د ترخان هېواد دی، ختيځ ته د روسي هېواد دی، دغه ټولې آبادی د سمندر پر غاړو دي، د روس سيمې د ترخان سيمه د دې برخې له ختيځ لوري را ايساره کړې ده او د اووم اقليم د پنځمې برخې له شماله، او د دې اقليم د څلورمې برخې له لويديځ لوري يې را ايساره کړې ده.

## د شپږم اقليم شپږمه برخه

د شپږمې برخې لويديځ ته د تورې بحيرې پاتې برخه ده چې يو څه د شمال لوري ته گرځېدلې ده، دلته د دې او په شمال کې د وروستۍ برخې تر منځ د قمانيه کلي دي. د تورې بحيرې لويديځ ته په شمالي اړخ کې لږ گرځنی دی، په دې دايره تر لرې لرې پورې د لانيه پاتې کلي پراته دي چې وروستۍ سهيلي څنډه يې په پنځمه برخه کې ده، د دې برخې ختيځ لوري ته د خزر له سيمې سره يو ځای شوې، د خزر په ختيځ کې د برطاس ټاټوبی دی او په شمال ختيځ کونج کې د بلغاريې هېواد دی. په سهيل ختيځ کونج کې د بلغار خاوره ده، د تور غره يوه برخه په دې ځای کې له دې برخې تېرېږي او د خزر له سمندرگي سره په څنگ کې اوومې برخې نه نوزي او بيا راگرځي له هغو بېلېږي او د لويديځ په لور وړاندې درومي له دې ټوټې نه تېرېږي د پنځم اقليم شپږمې برخې ته نوزي له جبل ابواب سره يو ځای کيږي، په دې ځای کې د خزر يو شمېر کلي پراته دي.

## د شپږم اقليم اوومه برخه

د دې اقليم په اوومه برخه کې سهيل لوري ته تور غر د طبرستان له سمندر نه بېلېږي تر کومه ځايه چې تللې هغه ټوله لويديځه برخه د خزر د ټاټوبي ده. د هغو ختيځ ته د طبرستان د سمندر يوه برخه ده، چې له ختيځ او شمال نه يې تور غر پيلېږي، د تور غره شا ته په لويديځ کې د برطاس ځمکې دي، او د دې برخې ختيځ لور نه د شجرب او بنجاک ځمکې دي، دا دواړه ترکي قومونه دي.

## د شپږم اقليم اتمه برخه

د اتمې برخې سهيل ته د جولخ ځمکې دي (دا يو ترکي قام دی)، دغه قام په شمالي سيمو کې، د هغو لويديځ ته او د منتنه ځمکو او د هغو ځمکو په ختيځ کې مېشت دی. د دې په باب دا مشهوره ده چې د ياجوج او

(c) ketabton.com: The Digital Library


ماجوج د دېوال نه مخکې دوی یاجوج او ماجوج ډېر برباد کړي وو، په همدغه منتنه څمکه کې د اتل سیند (والګا) دی، چې د نړۍ تر ټولو ستر سیند بلل کېږي. دغه سیند د ترکي سیمو نه تېرېږي د پنځم اقلیم اوومې برخې ته رسېږي طبرستان ته ننوزي، دغه سیند د مار په څېر کوږ ووږ تللی دی او ځای ځای یې مخ اړولی دی. سیند د منتنه په خاوره کې د یوه غره له درې چینو څخه راوتلی چې په یوه سیند کې سره یو ځای کېږي، دغه سیند په لوېدیځ کې د دې اقلیم تر اوومې برخې پورې درومي او چې شمال ته ورسېږي د اووم اقلیم د اوومې حصې په لوري مخ اړوي، بیا د سهیل او لوېدیځ تر منځ تېرېږي د اووم اقلیم تر شپږمې برخې پورې رسېږي. بیا تر لږ ځایه د لوېدیځ په لور بهېږي او بیا بېرته د سهیل لور ته مخه اړوي او د شپږم اقلیم شپږمې برخې ته بېرته رادرومي، دلته له دې څخه یو خوړ وتلی دی چې د لوېدیځ په لور درومي او په همدې برخه کې تور سمندرګي ته ورلوېږي. دغه سیند د بلغاریا په سیمه کې د شمال او ختیځ تر منځ بهېږي او د شپږم اقلیم اوومې برخې ته وزي، بیا دربیم ځل سهیل لور ته مخ اړوي او له تور غره سره نږدې تېرېږي او خزر سیمې ته وروزي، بیا د پنځم اقلیم اوومې برخې ته وزي او هلته د طبرستان سمندرګي ته ورتوییږي.

## د شپږم اقلیم نهمه برخه

د دې اقلیم د نهمې برخې په لوېدیځ کې د ترکي قام خفشاخ کلي دي، دې ته قفجاق وایي او دا هم ترکي قام دی، د دې برخې ختیځ لوري ته یاجوج او ماجوج دي. د دې دواړو تر منځ د قاف غر ولاړ دی او سره بیل کړي یې دي چې هغوی یې را ایسار کړي دي. د قاف غره یادونه پخوا شوې ده، دغه غر د څلورم اقلیم په ختیځ کې له محیط سمندره پیلېږي او له دې سره په څنګ کې سمندر شمال لوري ته د اقلیم تر پایه ورسره بهېږي، بیا له هغه نه بېلېږي د لوېدیځ لور ته د شمال لور ته ورتېټېږي او وړاندې درومي تر دې چې د پنځم اقلیم تر نهمې برخې پورې رسېږي، بیا په لومړني لوري کې وړاندې درومي تر دې چې په اووم اقلیم نهمې برخې کې له جنوبه د شمال لور ته ورکږېږي او ورننوزي، دلته یې په منځ کې هغه دېوال دی چې سکندر جوړ کړی دی، په خپل پخواني لوري کې د اووم اقلیم په نهمه برخه کې وړاندې درومي د دې له سهیل لوري له محیط سمندر سره په شمال کې نښلي، بیا له دې ځایه له محیط سمندر سره یو ځای د لوېدیځ په لور مخه بدلوي او وړاندې درومي او د اووم اقلیم پنځمې برخې ته وزي. بیا دلته د محیط سمندر له یوې ټوټې سره چې لوېدیځ لوري ته یې شته یوځای کېږي. د نهمې برخې په منځ کې د لوی سکندر لخوا جوړ شوی دېوال دی چې موږ یې مخکې یادونه کړې ده او د دې بیان په قرآن کریم کې هم شوی دی عبدالله بن خردادبه د جغرافیې په خپل کتاب کې لیکلي دي چې واثق بالله په خوب ولیدل چې دغه دېوال را لوېدلی وي، بیا یې له وېرې سترګې وغړولې او سلام ترجمان هغه لور ته د پلټنې لپاره واستاوه، تر دې چې سلام دېوال ته ور ورسېد او د هغه ځای وضعه یې وکتله بېرته راستون شو، دغه څرنیز خبرونه ډېر تفصیلي دي چې زموږ د دې کتاب په موخو کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شپږم اقلیم لسمه برخه

د دې اقلیم په لسمه برخه کې د یاجوج او ماجوج کلي سره یوځای شوي دي چې تر پایه غځېدلي دي او تر محیط سمندره پورې خپاره دي، د هغو اوږدوالی د شمال لوري ته دی او سور یې د لوېدیځ لور ته لږ دی. دغه کلي له ختیځ او شمال لوري نه محیط سمندر را ایسار کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اووم اقلیم

## د اووم اقلیم لومړۍ او دوهمه برخه

محیط ( آرام سمندر ) له شمال لوري نه د پنځمې برخې تر نیمايي پورې په اوبو کې ډوبه کړې ده، همدلته د قاف غرونه سره یوځای کېږي چې یاجوج او ماجوج یې را ایسار کړي دي. ځکه خو د دې لومړۍ او دوهمه برخه دواړه په اوبو کې ډوبې دي، یوازې هغه برخه یې له اوبو راوتلې چې د انګلنډ ټاپو ورته وايي، دغه ټاپو زیاتره د اقلیم په دوهمه برخه کې دی او په لومړۍ برخه کې هم د شمال لور ته ګرځېدلي له اوبو راوتلې ده، پاتې برخه یې د سمندر له یوې ګردې ټوټې سره د شپږم اقلیم له دوهمې برخې سره ده چې پخوا مو یې یادونه کړې وه، په دې سمندري ټوټه کې له دې ټاپو نه د وچې لوري ته لاره ۱۲ میله سورووره ده. د دې ټاپو شا ته د دوهمې برخې شمال ته د سلانده ( ایسلنډ ) ټاپو دی، چې له لوېدیځه د ختیځ په لور د یوه مستطیل په بڼه پروت دی.

## د اووم اقلیم درېیمه برخه

د اقلیم درېیمه برخه زیاتره تر اوبو لاندې ده، له یوې مستطیلې ټوټې پرته چې په جنوب کې پرته ده او د ختیځ په لور اوږده ده تللې ده. دلته د فلونیا خاوره ده چې په شپږم اقلیم درېیمه برخه کې یې یادونه شوې، دا مو هم ویلي چې دغه د فلونیا خاوره د سمندر پر هغه ټوټه پرته ده چې په اوبو کې پټه ده، یوازې د اوبو په ټوټه لوېدیځ لوري ته په دایروي پرته ده او له وچې سره د یوې ټاپووزمې په بڼه نښتې، چې جنوب لوري ته یې ده او د فلونیا تر سیمې پورې غځېږي. د فلونیا شمال لور ته د برعاقعه (ناروې) ټاپوزمه ده چې په شمال کې له ختیځه تر لوېدیځه په اوږدو پرته ده.

## د اووم اقلیم څلورمه برخه

د دې اقلیم څلورمه برخه بشپړه له ختیځه تر لوېدیځه په اوبو کې ډوبه ده، البته جنوبي برخه یې راوتلې ده، د دې لوېدیځ ته د قیمازک ځمکه ده چې ترکي قوم دی او ختیځ ته یې د طست کلي دي، بیا یې د ختیځ تر وروستیو څنډو د اسلان ټاټوبی دی چې تل په واورو پټ وي، په دې سیمه ک خلک ډېر لږ دي او دا د روسیې له هغو سیمو سره نښتې چې د شپږم اقلیم په څلورمه او پنځه برخه کې پرتې دي.

## د اووم اقلیم پنځمه برخه

د دې اقلیم له پنځمې برخې د روسانو آبادۍ پیلېږي چې په شمال کې د آرام سمندر پر هغه ټوټه پای مومي چې له هغو سره د قاف لومړۍ برخه نښتې ده، لکه چې موږ مخکې بیان کړې وه. دا په ختیځ کې د قمانیه له خاورې سره نښتې چې د اقلیم په شپږمه برخه کې په توره بحیره کې واقع ده، دا له هغه سیند سره چې طرمای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وايي پاى مومي. د دې سيند اوبه خوړې دي او په دې کې له شمال او جنوب غرونو نه زيات خوړونه راوتلي او دې سيند ته ور لوېږي. د دې برخې په ختيځ کونج شمال لوري ته د تاتاري ترکانو سيمه ده.

## د اووم اقليم شپږمه برخه

د شپږمې برخې په سهيل لوېديځ کې له قمانيه تاتوبي سره د يوځاى کېدو ځاى دى او د همدې لوري په منځ کې غتوره سمندرگى دى چې اوبه يې خوږې دي، په دې کې د ختيځو غرونو نه سيندونه ور توييږي، د ډېرې يخنۍ په سبب يې اوبه تل کنگل وي يوازې د تودوخې په ورځو کې يې د څو ورځو لپاره کنگل ويلي کېږي. د قمانيه سيمو ختيځ لوري ته د روسانو کلي دي، دغه سيمه د شپږم اقليم له شمال ختيځ لوري نه له پنځمې برخې پيلېږي، د شپږمې برخې شمال ختيځ ته مخامخ د بلغاريې هېواد په منځ کې د اتل (اتل) سيند گرځې دلته دغه سيند د سهيل لوري ته گرځېدلی، د دې شپږمې برخې په شمال کې د قاف غر دى چې له ختيځ نه د لوېديځ په لور غځېدلى دى.

## د اووم اقليم اوومه برخه

د دې اقليم اوومه برخه کې لوېديځ ته د يخناک د خاورې پاتې برخه ده چې د ترکانو د قام ده چې د شپږمې برخې د شمال او د دې برخې د جنوب په برابر پيل شوې او دغه قام تر شپږم اقليم پورې اورد پروت دى. په ختيځ کونج کې د سحرب د خاورې پاتې برخه او د منتنه د خاورې پاتې برخه پرتې دي، چې ختيځ لوري ته تر وروستۍ برخې پورې تللې دي، شمال لوري ته په وروستۍ برخه کې د قاف غر له لوېديځه تر ختيځه پروت دى.

## د اووم اقليم اتمه برخه

د دې اقليم اتمه برخه سهيل لوېديځ لوري ته د منتنه له خاورې سره نښتې ده چې ختيځ لوري ته يې محفوره ځمکه ده چې دا د نړۍ له عجايبو څخه يوه ده، داسې چې په کومه سيمه کې په ځمکه کې ډېر لوى او ژور غار دى چې خوله يې ډېره لويه او پرانيستې ده او تل ته يې رسېدل ناشوني دي. په دې غار کې د ورځې دودونه ښکاري او د شپې رڼاگانې چې پر دې گواه دي چې د ننه پکې څوک اوسېږي، کله کله په دې کې يو سيند هم ښکاري چې له سهيل نه د شمال په لور بهېږي د دې برخې ختيځ لوري ته د ودانيو کنډوالې دي چې د ياجوج او ماجوج تر دېواله رسېدلې دي. په پاى کې يې شمال لوري ته د قاف غر دى چې له ختيځه تر لوېديځه غځېدلى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اووم اقلیم نهمه برخه

د دې اقلیم په نهمه برخه کې لوېدیځ ته د خفشاخ سیمه ده چې قفجق هم ورته وايي، له دې سیمې نه د قاف غر تېر شوی دی، یانې د دې برخې په شمال کې محیط (آرام) سمندر ته نږدې راګرځي او د دې سیمې منځ ته رارسېږي. بیا د سهیل لوري ته لږ د ختیځ په لور ور کوږ شوی وړاندې درومي او د شپږم اقلیم نهمې برخې ته رسېږي او د هغو په ساره تېرېږي. همدلته په منځ کې د یاجوج او ماجوج دېوال ولاړ دی. د دې برخې په ختیځ کې د قاف غره شا ته تر سیند پورې غاړې ته د یاجوج او ماجوج سیمه ده چې سور یې لږ دی خو اوږده غځېدلې او له ختیځ او شمال نه سمندر را ایساره کړې ده.

## د اووم اقلیم لسمه برخه

د دې اقلیم دغه برخه ټوله په اوبو کې ډوبه ده، دلته پر جغرافیه او د اووم اقلیم په اړه زموږ خبرې پای ته رسېږي. بېشکه چې د ځمکې په پیدایښت کې، او د شپې او ورځې په راتلو کې نښوالو ته د دوی د خالق سترې ستړې نښې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیمه مقدمه

معتدل او غیر معتدل اقلیمونه، پر انساني رنګ د اوبو او هوا اغېزې، او د دوی پر زیاترو حالاتو د اوبو او هوا اغېز

## درېیم، څلورم او پنځم اقلیمونه معتدل دي

موږ مخکې یادونه وکړه چې د ځمکې په وچه کې منځنۍ برخه آباده ده ځکه چې په جنوب کې تودوخه زیاته ده او په شمال کې بیا یخني. څرنګه چې تودوخه او یخني په شمال او سهیل کې یو د بل برعکس دي ځکه خو له دواړو لوریو د منځنۍ برخې په لور یخني او تودوخه په تدریج کمېږي او په طبیعي ډول اعتدال ته راځي. ځکه خو منځنۍ برخه معتدله ده نه ډېره توده او نه ډېره یخني. له همدې لامله څلورم اقلیم تر ټولو زیات معتدل دی او له هغو سره تر څنګ درېیم او پنځم اقلیم اعتدال ته نږدې دي. له هغو سره نښتي دوهم او شپږم اقلیم له اعتدال نه لرې دي او لومړی او اووم اقلیم له اعتدال نه ډېر لرې دي.

په همدې دلیل درېیم، څلورم او پنځم اقلیم چې په منځنۍ برخه کې دي د علومو، هنرونو، ودانیو، جامو، د غلو او مېوو تر دې چې د حیواناتو او نورو شیانو چې پکې پیدا کېږي زېرمه ده، ځکه چې همدغه منځني اقلیمونه دي چې ځانګړی اعتدال لري. د دې اوسېدونکي هم د رنګ، بدن، اخلاقو، دین آن د نبوت په تړاو منځنۍ درجه لري. نبوت د انساني اعتدال لوړه څوکه ده، پیغمبران زیاتره په همدې منځنیو اقلیمونو کې راغلي دي او په شمالي او جنوبي اقلیمونو کې د بعثت په تړاو موږ خبر نه یو.

## پیغمبران منځلاري خوښونکیو انسانانو ته لیږل شوي دي

دا چې پیغمبران او رسولان هغو خلکو ته استول شوي چې په نورو ټولو انسانانو کې هغوی د خپل خلقت او عادتونو په دلیل تر ټولو بشپړ او کامل انسانان دي. الله ج فرمایي: تاسو غوره امت یاست چې د خلکو د ګټې لپاره مو پیدا کړي یاست تر څو چې پیغمبران علیهم السلام د الله ج له لوري کوم شریعت راوړی هغه دغه خلک په خوښۍ او تلوسه ومني. دغه د معتدلو اقلیمونو اوسېدونکي ډېر د بشپړو خصلتونو خاوندان دي ځکه چې په دې اقلیمونو کې اعتدال دی، ځکه خو دغه خلک په کورونو، جامو، خوراک څښاک او کارخونو کې بشپړ منځلاري دي، پر ډېرو په تصویرونو او میناتورۍ کې په ښکلي هنر کې د لیدلو وړ ودانۍ جوړوي، بېلابېل وسایل او ډېر غوره او ښایسته لوښي جوړوي او په هغو په ډېر کمال او هنر ښکلا، باریکي او پاکي پنځوي، د همدوی په خاورو کې د طبیعي کانونو لکه اوسپنه، سره زر، سپین زر، مس، جستو او نورو د کار وړ شیانو پریمانه ذخیرې موندل کېږي. په سوداګریزو معاملو کې ګرانبیه فلزات (سره او سپین زر) کاروي. غرض دا چې په ټولو اړخونو کې د دې سیمو اوسېدونکیو منځنۍ لاره غوره کړې او ښي او کیڼ اړخ ته نه وزي. دغه خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د المغرب، شام (سوریه)، عراق، حجاز، هند، سند، چین او اندلس اوسېدونکي دي، هغوی ته د نږدې سیمو اوسېدونکي هم په همدې ډله کې راځي لکه انګرېزان، رومیان، یونان او نور چې له هغوی سره یو ځای او یا د دوی اقلیم ته نږدې ژوند کوي، دا چې عراق او شام د ټولې نړۍ په منځ کې پراته دي ځکه خو دوی په منځلاري توب کې ډېر وړاندې دي.

## د نا معتدلو اقلیمونو اوسېدونکي نیمه وحشي وي

هغه اقلیمونه چې له اعتدال نه لرې دي لکه لومړی، دوهم، شپږم او اووم اقلیمونه د هغو اوسېدونکي هم په ټولو حالتونو کې له منځلارې نه ډېر لرې وي. د هغو کورونه له خاورو او بانسونو جوړوي او خوراک یې جواري او واښه دي، د ونو له پاڼو څخه ځانونو ته جامې ګنډي او ځانونه پرې پټوي او یا پوستکي تر ځانونو رانغاړي، زیاتره یې لوڅ لپړ ګرځي، د دوی د ښارونو مېوې او د هغو پوټکی هم ډېر عجیب او حیرانوونکی وي چې د اعتدال له بریده وتلی وي. د هغوی معاملې او راکړه ورکړه هم د سرو او سپینو زرو پر ځای د اوسپنې او پوټکي د سکو په واسطه تر سره کېږي. چې دوی یې د تبادلې لپاره ټاکي، د هغوی خویونه له ځناورو سره ورته وي تر دې چې د زیاترو سوډانیانو په باب چې د لومړي اقلیم ځایي اوسېدونکي دي ویل کېږی چې په غارونو او سمڅو کې ژوند کوي او واښه او شنه یې خوراک دی، او پر هغو ګوزاره کوي. د ځناورو په څېر وحشي وي او یو له بل سره مینه نه کوي، دوی یو بل خوري هم، د صقالیه ؤ په باب هم همدغسې ویل کېږي.

## د وحشي توب لامل یې

د دې لامل دا دی څرنګه چې دغه خلک له اعتدال نه لرې دي ځکه خو یې فطرت او اخلاق له ځناورو سره ډېر ورته دي. او دوی چې څومره له منځلارۍ نه لرې وي همدومره له انسانیت څخه لرې وي. د هغوی د دینداری حالت هم همداسې دی، دوی نه پیغمبران پېژني نه کوم شریعت پېژني البته کوم کسان چې منځلاریو ته نږدې پراته دي لکه حبشیان په هغو کې دینداري لیدل کېږی. ځکه چې دوی د یمن ګاونډیان دي چې تر اسلام د مخه هم عیسویان وو او تر ننه عیسویان دي لکه د مالي، ګوګو او تکرور اوسېدونکي چې د المغرب په ګاونډ کې دي او تر ننه مسلمانان دي. ویل کېږي چې دوی په اوومه هجري پېړۍ کې مسلمانان شوي دي. پر دې سر بېره کومو خلکو چې عیسوي دین منلی دی، لکه صقالیه (اسلاو) ترکان او انګریزان چې په سهیل او شمال کې پراته دي، له دوی پرته نور قومونه شته چې له دین نه په ټولیز ډول نا خبره او علم پکې ختم شوی دی او د دوی وضعه له انسانیت نه لرې شوې ده او حیوانیت ته نږدې دي. د الله بې شمېره مخلوق دی چې موږ پرې نه پوهېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لوستلو مو مننه کوم ـ
دا کتاب محمد زبیر شفیقي ژباړلی دی
په یو ټوک کې (۷۵۰) پاڼې دی.

---

عثمان غني
mohamadosmanghani@gmail.com
whatsapp : 0700217360
wordpress/osmanghanizabuli.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**